# سل نړيوال ريکارډونه

# 100

ژباړه او راټولونه

روح الله [illegible]ی

Ketabton.com

GUINNESS WORLD RECORDS

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سل نړیوال ریکارډونه

ژباړه او راټولونه

**روح الله ساپی**

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: سل نړیوال ریکارډونه

ژباړه او راټولونه: روح الله ساپی

خپروندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنگي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۰۰)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

**خپل قدرمن پلار او ګرانې مور ته چې زما په پالنه او رزونه کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي او تل يې زده کړو ته هڅولی يم.**

**روح الله ساپی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن خبرې

ګینیس هغه کتاب دی چې په هغې کې نړیوال ریکارډونه ثبتېږي، په دې کتاب کې داسې ریکارډونه هم شته چې موږ او تاسو ته به ډېر عادي ښکاري، خو بیا هم په نوموړي کتاب کې ثبت شوي دي او د نړیوال ریکارډ حیثیت لري، موږ هم په ژوندون ټلوېزیون کې د ریکارډ په نوم یوه خپرونه لرو چې د هغې لپاره زه همدا نړیوال ریکارډونه راټولوم او پښتو ژبې ته یې راژباړم، یوه ورځ یو ملګري مشوره راکړه چې په دې ژباړل شویو ریکارډونو کې غورچاڼ وکړم او په زړه پورې سل ریکارډونه ترې راټول او د کتاب په ګاڼه یې سمبال کړم، دا خبره مې ډېره خوښه شوه او له هغې ټولو ریکارډونو څخه مې سل غوره او په زړه پورې ریکارډونه راټول ، بیا چاپ او اوس ستاسو په لاسونو کې د کتاب په بڼه دي. له دې ریکارډونو او دې لړۍ څخه د (ګینیس نړیوالو ریکارډونو کتاب) ښتنانو یوازینۍ موخه داده چې خلک خوشاله وساتي، د نوي شیانو منځ ته راوړلو، د نوي کارونو او نوښتونو هڅې وکړي، له دې سره په انسان کې نوی ځواک پیدا کېږي، چې هغه ځواک د یو نوښت کولو دی، دا کار به زموږ په ټولنه کې دومره ارزښت ونه لري، خو نړیوال یې پر ارزښت پوهېږي او دې کار ته یې کار ویلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتیا هم په دې ریکارډونو کې یې ګڼ شمېر ریکارډونه نوښتونه دي چې همدا نوښتونه انسان ته د نورو لاسته راوړنو او د نورو بریالیو هڅو کولو انرژي ورکوي، انسان لاس په کار کېږي چې بل داسې یو نوی کار ترسره کړي چې هغه هم په (ګینیس) کتاب کې ثبت شي، په همدې هیله چې درانه هېوادوال د نړیوالو ریکارډونو دا کتاب ولولي او هڅه وکړي چې په دې کتاب کې د افغانانو ریکارډونه هم ثبت شي او په دغه نوملړ کې د افغانانو نومونه هم وځلېږي.

په همدې هیله

روح الله ساپی

ژوندون ټلوېزیون

کابل

۱۷/حوت/۱۹۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الکترونيکي يا (هووربورډ) تختې په مرسته الوتل

**دغه ريکارډ د يوې الکترونيکې تختې پرسر، چې د (هووربورډ) په نامه يادېږي د (الکساندرو درو) لخوا، چې د (کاناډا) هېواد څخه دی د دې هېواد په (کيبک) ښار په (اوريو) جهيل کې ترسره شوی دی.**

**نومړی ريکارډ د اليکترونيکي تختې باندې ډېر اوږد واټن وهل د اوبو پرسر دي، چې د (الکساندرو درو) لخوا ترسره شو.**

**نومړې تخته د (درو) لخوا جوړه شوې ده او دی د دې تختې په مرسته (۹،۲۷۵) متره واټن و واهه.**



**دا لومړنی ماشين دی، چې (الکساندرو) په خپله جوړ او ډيزاين کړی دی، دغه ماشين د الوتنې ځانګړتيا لري او دی يواځنی کس و، چې دې ماشين ته يې د اوبو پر سره الوتنه ورکړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(الکساندرو) د دې ماشين جوړولو طرحه د اکشني فلمونو څخه واخيسته او پــه دې وتوانيده، چې په حقيقي بڼه يې د کار اخيستنې لپاره وړاندې کړي او د دې په مرسته يو نوی نړيوال ريکارډ هم په خپل نوم ثبت کړ.**

**د (هووربورډ) يا ټکنالوژيکي تخته د لومړي ځل لپاره ځکه د اوبو پر سر وکارول شوه، که چېري دغه تخته له کومې تخنيکي ستونزې سره مخ شي نو چلــونکي کوم ځيان و نه رسيږي، د (الکساندرو) دغه ريکــارډ رســما د ګينــيس نړيــوال سازمان لخوا د يوه ريکارډ په بڼه تائيد او ثبت شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ چټکه لارۍ (ټرک)

دغه ریکارډ د یوې لارۍ موټر په مرسته تر لاسه شوی، نوموړې لارۍ مــوټر پــه یوه کیلو متر کې (۱۵۲،۱۸۲) کیلومتره پــه ســاعت کــې مــزل کــړی او د لارۍ موټرونو تر ټول چټک سرعت یې د یوه ریکارډ په بڼه ثبت ته ور ساوه.
دغه ریکارډ د (استرالیا) هېواد په (باند برګ) هوایي ډګر کې د (فرانک ګفیــرو) لخوا ترسره شو، د دې موټر چټک سرعت د موټرو جوړولو کمپنۍ ډیری مالکان ګوته په غاښ کړل.
دغه لارۍ، چې د ټي (۴۰۰) په نامه نوموول کیږي، له دوه (V8) ډیزلي ایــنجن یــا ثخه برخمن ده (فرانک) چې د دې ټرک په مرسته دغه ریکارډ ترسره کړ، پــه دې وتوانېده چې له د ې موټر سره په یوساعت کې (۱۵۲،۱۸۲) کیلومتره مزل و وهي.
د لارۍ په مرسته ترسره شوی ریکارډ د (۲۰۰۵) م میلادي کــال د جــولای پــر (۱۶) مه نېټه په (استرالیا) هېواد کې لاسته راغی او رســما د ګینــیس نړیــوال ریکارډ سازمان لخوا تائید او ثبت ته ورسید.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ درووند بايسکيل

د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه ډېرى کسان کوښښ کوي تر څو خپلې وړتياوې، ځواک او استعداد نړيوالو ته وښايي، ډېرى يې په دې کوښښ کې وي، چې داسې يو کار ترسره کړي چې په تاريخ کې ثبت شي يا هم د يوه ريکارډ په بڼه ثبت شي، چې له دې ډلې څخه ډېرى يې په خپلو دې کړنو کې بريالي کيږي هم.

تاسو ته د نړۍ ترټول درووند او زمينه بايسکل در پيژنو، چې نړيوال ريکارډ يې ترلاسه کړى، نوموړى بايسکل سره له دې چې ډېر وزن لري چلول کېږي هم، د دې درووند بايسکيل مجموعي وزن (۷۵۰) کيلو ګرامه دى، چې د (کيل د وتر وان دن بوسچ) لخوا جوړ شوى دى.




(کيل د وتر) د (نيدرلند) هېواد اوسيدونکى دى او په دې بريالى شو، چې د نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تر ټولو ډېر وزن لرونکی بایسکیل جوړ کړي نوموړی بایسکیل په همدې هېـــواد کې جوړ شوی دی.**

**دغه ریکارډ د (۲۰۱۰) م کال د مې میاشتې پر (۱۰) مه نېټـــه لاســـته راغـــی او د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا په رسما ثبت ورسیده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ دروند موټر سایکل

وړاندې مو تاسو ته د نړۍ دروند بایسکل و پېژندو خو په دې مطلب کې تاسو ته د نړۍ دروند موټر سایکل در پيژنو.

دغه موټر سایکل د (هازر) کمپنی دی، چې د (ټيلو) او (ویلفر) لخوا طرحه او ډیزاین شوی دی، نوموړی موټر سایکل د (جرمني) هېواد به (نیبل ژیلي) کې جوړ او ننداري ته وړاندې شو.

د نړۍ دغه ډیر وزن لرونکی موټر سایکل د دوه کسانو (ټيلو) او (ویلفر) لخوا جوړی شوی دی.

د دې موټر سایکل مجموعي وزن (۷۴۹،۴) ټنه دی، چې په (۲۰۰۷) م میلادي کال کې د نومبر پر (۲۳) مه نېټه د موټرسایکل ځغلولو په یوه ننداری تون کې د (ویلفرد) او (ټيلو) لخوا ننداري ته وړاندې شو.

نوموړی موټر سایکل د تګ یا د حرکت کولو وړتیا هم لري، چې د ډیرو نړیوالو پام یې ځانته را واړو، دغه ریکارډ د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخو په رسمي توګه او ثبت ته ورسید.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موټر سایکل چلول په اور کې

د ژوند سره لوبې داسې ریکارډ چې د مړینې امکان هم پکې ډیر دی خو په ډیر مهارت سره ترسره شوی دی.

ډیری کسانو داسې ریکارډونه ترسره کړي، چې په هغه کې د هر ډول خطر امکان هم وي خو بیا هم په ډیرې زړورتیا سره یې ترسره کوي ترڅو ځان د یوه پیاوړي او نو ښتګر په نامه نړیوالو ته ثابت کړي.

د موټر سایکل څغلول په اور کې، چې ترسره کول یې ډیر ګران کار دی، نوموړی ریکارډ د (انریکوشوومن) او (اندري دي کوک) لخو ترسره شو، چې د یوه نوي ریکارډ په بڼه ډیرو کسانو خوښ کړ.

دغه خطرناکه ریکارډ د (۲۰۱۴) م میلادي کال د سپټمبر پر (۵) مه نېټه په (سوت افریقا) کې ترسره شوی دی، په دې د اور ډک تونل کې دې دواړو زړورو کسانو (۴،۱۲۰) متره موټرسایکل وچلوو او یوه نوی ریکارډ په خپل نومونو ثبت ته ورساوه، چې دګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا هم تائید شو.

**همدا ډول دې ته ورته یو بل ریکارډ په هندوستان کې هم ترسره شو**

د (هندوستان) هیواد په (ممبی) ښار کې هم مختلف ورزشي او ستونزمند ریکارډونه ترسره کیږی دغه راز د (هندوستان) هېواد یو تکړه فلمي لوبغاړی، چې (شبیر) نومیږي او د (هندوستان) سینما په ډیریو فلمونو او سریالونو کې یې هم خپل هنري وړتیاوې ښودلي دي، په (۲۰۱۱) م میلادي کال د مارچ میاشتې پر (۱۳) مه نېټه یو نوی نړیوال ریکارډ سر ته ورسو.

نوموړي په یوه اوږده د اور تونل کې، چې اوږدوالی (۴۹.۶۸) متره کېږي، خپل موټر سایکل وچلوه او دګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا په رسمي بڼه ثبت او تائید شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ ستر کېک

دغه کېک د (تیرامیسو) په نامه نومول شوی دی، چې نړیوال ریکارډ یې ترلاسه کړ.
د (تیرامیسو) دغه مشهوره کېک په (ایټالیا) هېواد کې په ډېر مهارت سره جوړ شو، په دې کېک کې د (ساوویاردي بیسکیت، قهوه، د ماسکارپونه پوڅه یا پنیر، بوره، د هګیو زیړ او ککو) څخه ګټه پورته شوې ده کوم مواد. چې په دې کېک کارول شوي دي دا ډېر معمولي او عام دي او په عادي کېکونو کې هم ترې ګټه پورته کیږي.
د دې کېک مجموعي وزن (۳۰۱۵) کیلو ګرامه دی، چې د (اسوسیازیشن کانس ایفرا) کمپنۍ لخو د (دیسپار) او (اوفا پاسکولو) په مرسته جوړ شوی.
(تیرامیسو) کیک د (۲۰۱۵) میلادي کال د مې پر (۲۵) مه نېټه د (ایټالیا) هېواد په (جیمنا دل فرولي) سیمه کې جوړ شو.
دغه کیک د (۳۰۱۵) کیلو ګرام وزن په درلودلو سره نړیوال ریکارډ ترلاسه کړ او رسما د ګینیس نړیوال سازمان لخوا د ډېر وزن لرونکي کیک په نامه ثبت ته ورسیده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په څنګل باندې د کوپرې ماتول

پزړه پوری او ډېر جالبه ریکارډ او د دې ترڅنګ یو ستونزمن ریکارډ، چې ترسره کول یې عادي کسانو لپاره ډېر ګران کار دی او کېدی شي ډېری د دې ریکارد په سرته رسولو کې پاتې را شي.

دا ستونزمن ریکارډ د (ایدن کیجویک) لخوا ترسره شوی دی نوموړي په یوه دقیقه وکولای شول، چې (۴۰) کوپرې په ډېرې چټکۍ سره په (څنګل) باندې ماتې کړي او یو نوی نړیوال ریکارډ یې په خپل نوم ثبت ته ورساوه، (ایدن کیجویک) په اصل کې د (بوسنیا هیرزګوین) هېواد اوسیدونکی.

د (ایدن کیجویک) لخوا دغه ترسره شوی ریکارد په (بوسنیا هیرزګوین) هېواد په (ویسکو) ښار کې ترسره شو.

په یوه دقیقه کې د ډېرو کوپرې ماتولو ریکارډ د (۲۰۱۴) م میلادي کال د نومبر پر (۳۰) مه نېټه ترسره شو او رسما د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا ثبت ته ورسیده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# انځوریځ سیلفي ریکارډ

یو ډیر ساده، حیرانونکی او پزړه پوری ریکارډ او په عین حـال کـې یـو آسـانه ریکارډ، چې تر دې دمه د هیچا پام ورته شوی نه دی.

دغه ریکارډ د ډیرو سلفي انځورونو اخیستل دي، چې ترسره کول یې ډیر ساده او آسان دی او ډیری کسان به دغه ریکارډ ترسره کړي.

د سلفي انځورونو ریکارډ د هالیوډ سوپرستار (ډې وین ده راک جـانس) لخـوا ترسره شوی دی.

(راک) چې په لندن کې د یوه فلم په پرانیسته کې یې ګډون کړی و دا انځوریځ یا سلفي ریکارډ یې ترلاسه کړ، راک جانسن په حقیقت کې د ریکارډ د ترسـره




کېدو لپاره لندن ته نه و تلی خو دغه نړیوال ریکارډ یې مینه والو ورتـه ور پـه برخه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راک چې کله په لند کې د (سن اندړس) فلم په پرانیستو مراسمو کې ګډون وکړ، د دې فلم ډیر مینه وال او خوښونکي دې مراسمو ته راغلي و تر څو د فلم له پرانیستې څخه خوند واخلي خو د (راک جانسن) په لیدو سره لا پسې خوشحاله او حیران و او په دې کوښښ کې شول ترڅو د (راک) سره په سرې قالینې باندې سلفي انځورنه واخلي.

په دې مراسمو کې د (راک) مینه والو په (۳) دقیقو کې له هغه سره (۱۰۵) سلفي انځورونه واخیستل، چې د یوه نړیوال ریکارډ په بڼه ثبت ته ورسید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غاښ ډکو په مرسته د لرغونو سیمو جوړل

دغه ریکارډ د غاښ پاکولو ډکو په مرسته د لرغونو سیمو جـوړل دي، نومـوړی ریکارډ د (ستیفن) لخوا ترسره شوی.
(سفتین) د یوه ځانګړي مهارت څخه برخمن دی او د غاښونو د ډکـو (لرګیـو) څخه د نړۍ ډیری تاریخي ځایونه جوړ کـړي دي نـو مـوړی لـه اوس مهـال د غاښونو د ډکو ماستر په نامه پیژندل کېږي.
(ستیفن) د ډکو به مرسته د (۸۶،۱۹) ملي متره په لوړوالي سـره یـوه لرغـونې سیمه جوړه کړه، چې دا کار یې نړیوال شو او د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمانی لخوا په رسمي بڼه تائید او ثبت ته ورسیده.
دې مهار سړي خپلې لاسته راوړنې او کوم اثار یې، چې د غاښ ډکو په مرسـته جوړ کړي و په لندن ښار کې نړیوالو ته د ننداري لپاره وړاندې کړل، چې له دې سره یې نړیوال ریکارډ هم ترلاسه کړ.
ده د غاښ پاکولو ډکو په مرسته د فرانسې پاریس اوسپنیز څلـی، د انګلسـتان ځینې لرغوني ځایونه او همدا ډول د امریکا او یو شـمېر نـورو هېـوادون مهـم لرغوني ځایونه جوړ کړي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دوه موټرو ترمنځه د موټر پارکول

(السترموفت) چې د (بریټاینا) هېواد څخه دی یو ډېر پزړه پوری او حیرانونکی ریکارد ترسره کړ.

(الستر) په یوه نړیوال سپورټي نندارتون کې د دوه موټرو ترمنځ په ډېره کمه فاصله خپل موټر پارک کړ او نړیوال ریکارډ یې ترلاسه کړ.

ده خپل موټر په (۵،۷) سانتي متره، چې (۹۵،۲) اینچه کېږي پارک کړ، دغه ریکارډ د (بریټانیا) هېواد په (برمینګام) ښار کې د (۲۰۱۵) میلادي کال د جنوری پر (۸) مه نېټه ترسره شو.

نوموړی نړیوال ریکارډ په ډېرکم وخت، په ډېرې چټکۍ او په خاص مهارت سره ترسره شو، چې د ډېرو نړیوالو پام یې ځانته راواړو.

ګنینس نړیوال ریکارډ سازمان په کمه فاصله کې د موټر پارکولو ریکارډ رسما تائید او ثبت ته ورساوه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ ستر چرمي توپ

( جویل واول) چې د امریکا (هېواد) د (فلوریدا) ایالت یو اوسیدونکی دی د نړۍ تر ټول ستر چرمي توپ (بال) یې جوړ کړ او یو نوی او ډېر ساده ریکارډ تر لاسه کړ.
د نړۍ د دې تر ټولو ستر چرمي توپ مجموعي وزن (۴۰۹۷) کیلو ګرامه چې (۴) ټن کېږي دی، دغه ریکارډ د (۲۰۰۸) م کال د نوامبر میاشتې پر (۸) مه نېټه پــه (آمریکا) کې تر لاسه شو.
(جویل واول) چې یو تور پوستی دی په ډېر زیار او کوښښ سره په دې وتونېده، چې په ګینیس نړیوال سازمان کې خپل نوم ثبت کړي، دی په ډېر زیار او د ډېر وخت په تېردو سره د نړۍ تر ټولو ستر توپ د چرم څخه جوړ کړ، چــې د ډېــرو پام یې ځانته واړو، نوموړی ریکارډ رسما د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخــوا ثبت او تائید شو
.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موټرسایکل په مرسته د دوه اوسپنیزو کانټنرونو پر سر جمپ وهل

**دا پزړه پوری او جالبه ریکارډ د دوه کسانو لخوا ترسره شوی دی، چې هریو (ډیوډ کوبوس) د (اسپانیا) هېواد څخه او (لوکا کوتون) چې د (ایټالیا) هېواد اوسیدونکی دی ترسره شو.**

**دې دواړو کسان په ګډه دغه ریکارډ په (۲) دقیقو او (۳۵) ثانیو کې ترسره کړی، (کوبوس او کوتون) دواړو په دې موده کې په دوامداره توګه د دوو کانټینرونو پر سر د موټر سایکل په مرسته جمپ و وهو.**

**دغه ریکارډ د (ایټالیا) هېواد په (روم) ښار کې د (لې شیو ډې) په نړیوال استډیوم کې د (۲۰۱۰) م میلادي کال د مارچ پر (۱۱) مه نېټه ترسره شو.**

**ګنینس نړیوال ریکارډ سازمان دغه ریکارډ په رسمي بڼه ثبت کړی دی.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ګلف توپ په مرسته نښه ویشتل

دغه ریکارډ د (فیدریکو) چې د ګلف لوبې یوه تکړه او پیاوړی لوبغاړی ترسره شوی،
نو موږی په دې وتوانېده، چې د ګلف توپ په مرسته یو پزړه پوری ریکارد تر لاسه کړي.
(فیدریکو) د ګلف توپ په مرسته په یوه دقیقه څو ځلي دقیقه نښه وویشتله.
نوموړي لوبغاړي د ګلف توپ په مرسته د نښې ویشتلو ریکارډ په (۳) دقیقو او (۲۰) ثانیو کې ترسره کړ.
دغه ریکارډ د (چین) هېواد په (بیجنګ) ښار کې د (۲۰۱۰) م میلادي کال د ډسمبر په (۲۱) نېټه ترسره شو.
د ګلف دې لوبغاړي دغه ریکارډ په ډېر مهارت سره ترسره او خپل نوم یې په ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان کې ثبت ته ورساوه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سمنټي تيږو ماتول

په يوه دقيقه کې د ډېرو سمنټي تيږو ماتول، دغه ريکارډ د (علي) لخوا چې د (ترکيې) هېواد يوه اوسيدونکی دی ترسره شوی دی.
(علي) په خپله د تکواندو يو تکړه لوبغاړی دی او په دې و توانېدو، چې په يوه دقيقه کې په لاس باندې ډير شمېر سمنټي تيږې ماتې کړي.
ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان د (علي) دغه ريکارډ رسما تائيد او ثبت کړ.
د يادولو وړه ده، چې (علي) له د ې وړاندې يوځلي په (۲۰۰۸) کال کې د فبرورۍ پر (۲۳) مه نېټه دغه ريکارد د (اسپانيا) هېواد په پلازمېنه (مادريد) کې هم ترسره کړی و خو هغه وخت د دې ريکارډ په ترسره کېدو کې پاتې راغی.
نو موړي د ورستي ځل لپاره دغه ريکارډ د (۲۰۱۰) م کال د نومبر مېاشتې پر (۱۷) مه نېټه په بريالي توګه په (ترکيې) کې ترسره کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په تندي باندې د غوزانو ماتول

په تندي باندې په يوه دقيقه کې د ډېرو غوزانو (چهارمغزو) ماتول.

(محمد رشاد) چې د ګاونډي هېواد پاکستان او سيدونکی دی يو ډېر پزړه پوری او حيرانونکی ريکارډ ترسره کړ.

د غوزانو ماتول، چې ډېری وخت په تيږه او يا يوې بلې اوسپنيزې وسيلې باندې ماتيږي، خو (محمد رشاد) په دې وتوانېده، چې غوزان پر سره باندې مات کړي.

نوموړي دغه ريکارډ په يوه دقيقه کې ترسره کړ او په دې موده کې يې ډېر شمېر غوزان په تندي باندې مات کړل او له دې سره يې نړيوال ريکارډ لاسته راوړ.

د (محمد رشاد) دغه ريکارډ رسما د ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان تائيد او ثبت شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوړ ځای څخه اوبو ته ټوپ وهل

**دغه ریکارډ د په یوه پلاستیکي د اوبو ډک حوض ته ټوپ وهل د لوړ ځای څخه دي.**
**دغه کلاسیک ریکارډ د (کریستین ایلفس) چې د (جرمنـــي) هېـــواد څخـــه دی ترسره شو.**
**نوموړی په دې وتوانېده، چې د (۱۸) متره لـــوړ ځـــای څخـــه پـــړمخ د اوبـــو ډک پلاستیکي حوض ته ټوپ و وهي.**
**د غه پزړه پوری ریکارډ د (۲۰۱۲) م کال د جون پر (۷) مه نېټه د جرمني هېواد په (هامبورک) ښارکې ترسره شو.**
**ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان نوموړی ریکارډ د (ایلفس) پـــه نامـــه پـــه خپلـــو ریکارډونو کې ثبت او تائید کړ.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په یوه دقیقه کې (۲۱۴) ځلې د اوږې پر سر د فوټبال توپ ټچول

نوموړی ریکارړد د لیون په نامه کس لخوا په (۲۰۱۴) میلادي کال کې ترسره شو.

دی د (نیدرلند) هېواد اوسیدونکی دی او په دې وتوانېده، چې په خپل مهارت سره یو نړیوال ریکارډ لاسته راوړي.

(لیون) په یوه دقیقه کې په مسلسل ډول (۲۱۴) ځلې د فوټبال توپه د خپلې اوږې سره ټچ او کنټرول کړ.

دغه ریکارډ، چې په (۲۰۱۴) م میلادي کال کې د اګست پر (۱۸) په نیدرلند هېواد ترسره شو، په رسمي بڼه د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان کې ثبت شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډېر وزن لرونکی ځمکنی (زميني) توت

تاسو ته داسې ځمکنی (زمني) توت درپېژنو، چې نړيوال ريکارډ يې ترلاسه کړئ دی.
دا ځمکنی توت د (کوجي ناکو) لخوا کرل شوی دی، چې د (جاپان) هېواد اوسيدونکی، نوموړي دې ځمکني توت ته روزنه ورکړې ده.
دغه ځمکنی توت د (امو) په نامه نومول کېږي، چې يو ډول جاپانی توت دی.
نو موړی ځمکنی توت د (۲۰۱۵) ميلادي کال د جنوری پر (۲۸) مه نېټه د جاپان هېواد په (فوکا کو) ښارکې د دې کس لخوا په يوه زراعتي ځکمه کې وکرل شو او (کوجي ناکو) نوموړي توت ته ځانګړنې پاملرنه وکړه، ترڅو د نړی ډېر وزن لرونکی توت وپېژندل شي، د نوموړي توت مجموعي وزن (۲۵۰) کيلو ګرامه دی او په (۲۰۱۵) کال کې د نړی دروند ځمکنی توت و پېژندل شو او نړيوال ريکارډ يې ترلاسه کړي.
ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان رسما دغه توت د (۲۵۰) کيلو ګرامه وزن په در لودلو سره په نړيوالو ريکارډونو کې وشمېره او د يوه ريکارډ په بڼه يې ثبت ته ورساوه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ګېډې پرسر د سمنټي تيږو ماتول

يو ډېر خطرناکه او حيراونونکی ريکارډ، په يوه دقيقه کې ګېډې پرسر د (۱۶) سمنټي تيږو ماتول.

دا خطرناکه ريکارډ، چې په يوه دقيقه کې په ډيرې چټکۍ سر ترسره شوی دی، له دې وړاندې هيڅوک په دې نه دي توانېدلي، چې دې ته ورته ريکارډ په ډيرې چټکۍ سره ترسره کړي.

د ګېډې پر سر د تيږو ماتولو ريکارډ د (علي) لخوا، چې د (ترکېې) هېواد دی ترسره شوی دی.

نوموړي دغه ريکارډ د ترکېې (اتاترک) کلتوري مرکز په (مکلا ستيکي کوک من) په يوه پوهنتون کې د ډيرو ننداره چيان پر وړاندې ترسره کړ او ډير وستايل شو.

د (علي) پر ګېډې په (۳۳،۶) ثانيو کې (۱۶) سترې سمنټي تيږې ماتې شوې او دغه ريکارډ د نوموړي په نامه ثبت ته ورسيد، دغه ريکارډ د (۲۰۱۵) ميلادي کال يو پزړه پوری ريکارډ ګڼل شوی دی او دغه ريکارډ د همدې کال د مارچ پر (۸) مه نېته ترسره شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خولې د هوا په مرسته د هګيو اړول

دريکارډونو په لړ کې مو تاسو ته د هګيو په مرسته ترسره شوی پزړه پــوری او حيرانونکی ريکارډ را اخيستی دی.

نو موږ ی ريکارړډ په يوه دقيقه کې د خولې د هوا په مرسته د ډېرو هګيــو اړول له يوه مخ څخه په بل مخ باندې دي، نوموړی ريکارډ ځانګړي مهارت تــه اړتيــا لري.

دغه ريکارډ د (چينايي) (دنګ ژوهای) لخوا په ډېر مهارت سره ترســره شــو او دې ريکارډ سره يې نړيوال ګوته په غاښ کړل.

دغه ريکارډ د (ژوهای) لخوا په يوه دقيقه کې ترسره شو او پــه دې مــوده کــې نوموړي (۴۹) دانې هګۍ د خولې د هوا په مرسته په بل مخ واړولې.

(ژوهای) دغه حيراونونکی ريکارډ د (۲۰۱۴) م ميلادي کال د سپتمبر پر (۵) مه نېټه د (چين) هېواد په (ژايمن) سيمه کې د ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان پــه يوه ننداړتون کې د ډېرو ننداره چيانو پر وړاندې ترسره کړ.

دغه ريکارد هم د ګينيس ورډ ريکارډ سازمان لخوا رسما د يوه ريکارړد په بڼــه تائيد شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ ګران بېيه ساندويچ

په دې ګران بېيه ساندويچ کې بېلا بېل مواد کارول شويٍ، چې ډېر يې د خوړلـو په ارمان دي خو د دې موادو په کارولو سره د نړۍ ګرانه بېيه ساندويچ پيژندل شوی دی.

د دغه ساندويچ اصلي قميت (۲۱۴) ډالره دی او د دې لوړې بيې سره يې نړيوال ريکارډ ترلاسه کړ او په نړۍ کې ګران بېيه ساندويچ وپېژندل شو.

په دې ساندويچ کې ډېرۍ قيمتي مواد لکه د (سمندري خرچنګ غوښه، پنيـر، کباب شوی پنير) او داسې نور مواد پکې کارول شوې دي.

هرڅوګ نومورې ساندويچ نشي خوړلی ځکه چې ګران بيه دی او ځېنو کســانو، چې له هغه ګټه پورته کړې ده، د بيا ځل خوړلو په ارمان يې دي، هغـوی وايــي چې دا ګرانه بيه ساندويچ ډېر خونــدر دی، طبــي څېړنــې هــم ښــېې چــې دا ساندويچ په ښه توګه حضميږي.

ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان دغه ساندويچ د (۲۱۴) ډالرو پــه قيمــت د نــړۍ ګران بېيه ساندويچ و پېژندو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**د رنګونو جنجال یا د ماشومانو د لوبو وسایلو ریکارډ په ډېرې چټکـــی ســـره د اوبو لاندې د (تریتن) لخوا ترسره شوی دی، دی د (امریکــا) هېـــواد دی او پـــه (واشنګټن) پوهنتون کې په زده کړو بوخت دی.**

**(تریتن) د اوبو لاندې په دې بریالی شو، چې د لوبو وسایلو په مرسته یـــو نـــوی ریکارډ جوړ کړي، دې مهار کس (۸) د رنګونو جنجال، چې غیر منظم و د اوبـــو لاندې ټول په (۲) دقیقو او (۴) ثانیو کې منظم کړل او له دې سره یې یو نړیـــوال ریکارډ ترلاسه کړ.**

**د رنګونو پخوانی ریکارډ (۵) د رنګونو جنجال جوړول و، چې د (تیرتین) لخـــوا دغه ریکارډ مات شو، نوموړی (۸) د رنګونو جنجال د اوبـــو لانـــدې پـــه ډېـــرې چټکی سره منظم کړل، د نوموړي دغه ریکارډ د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا په ګینیس نړیوال کتاب کې ثبت ته ورسیده.**

**(تیرتین) درنګونو ریکارډ د (۲۰۱۵) م میلادي کال د اپریل پر (۱۹) مه نېټـــه پـــه (کارنیوال) سیمه کې ترسره کړ.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټايرونو بدلول

په ډېرې چټکۍ سره د موټر د څلورو ټايرونو خلاصول او بېرته تړلو ريکارډ.
نو موړی ريکارډ د (مارکو هرزلب، ډيني ورنر، ګوردن نيمان او فلوريـان والکـن هورست) لخوا ترسره شوی دی.
دغه ريکارډ د چټک ريکارډ په بڼه په نړيوالو ريکارډونو کې وشمېرل شو.
دې څلورو کسانو د دې موټر ټايرونه د موټرونو په ننداروتو کې د ډېرو کسانو پر وړاندې خلاص او بېرته وتړل.
دغه څلور کسان، چې د موټر د تخنيک په برخه کې ډېره تجربه لري لـه پخــوا يې دا هڅې پيل کړې وې تر څو په دې بريالي شــي، چــې يــو نړيــوال ريکــارډ ترلاسه کړي، خو له ډېرو هڅو وروسته نوموړو وکولای شول، چې نړيوال رکــارډ ترلاسه کړي.
د موټر د تخنيک دغو انجينرانو په دې وتوانېدل، چې په (۶۲،۵۹) ثــانيو کــې د موټر څلور واړه ټايرونه خلاص او بېرته وتړي.
دغه ريکارډ په (۲۰۱۵) ميلادي کال د مې پر (۳۱) مه نېټه د (جرمني) هېواد پــه (برندن بورګ) ښار کې ترسره شو او د ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان لخوا پــه رسمي بڼه تائيد او ثبت شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په یوه دقیقه کې (۲۲۴) ځلې په پښه باندې د فوټبال توپ ټچول

دغه ریکارډ هم د (لیون) لخوا ترسره شوی دی.
نوموړی د فوټبال یوه تکړه لوبغاړی دی او د خپل ورزشي مهارت سره یې دوه نړیوال ریکاډونه خپل کړل.
(لیون) داځل په یوه دقیقه کې تر ډیره ځنډه پورې د فوټبال توپ په خپله پښه باندې کنټرول کړ.
دی په یوه دقیقه کې په دې وتوانېده، چې (۲۲۴) ځلي د فوټبال توپه په خپلې باندې ټچ کړي او یو نوی نړیوال ریکارډ ترلاسه کړی.
دغه ریکارډ د (۲۰۱۵) میلادي کال د اګست پر (۱۸) مه نېټه په (نیدرلند) هېواد کې ترسره شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موټر تاوول

تر ډیره څنده پورې د موټر تاوول هغه هم په داسې حالت کې، چې چلونکی یې د موټر په بام ولاړ دی.

دغه پزړه پوری او جالبه ریکارډ، چې ډیری نړیوال یې په لیدو سره حېران شول د (البرت ایریس) لخوا، چې د (برازیل) هېواد اوسیدونکی دی ترسره شوی دی، (البرت) نوموړی ریکارډ د (۲۰۱۲) میلادي کال د اګست پر (۱۲) مه نېټه د (برازیل) هېواد په (پنیاس پارانل) کې ترسره کړ.

نو موړی ریکارډ یو ځلي د (۲۰۰۷) م میلادي کال د اکتوبر پر (۳) مه نېټه په (چین) هېواد کې هم ترسره شوی و، چې د (۵) کالو په تېریدو سره د (البرت) لخوا مات شو، دغه ریکارډ د (۲۰۱۲) میلادي کال یوه له پزړه پورو ریکارډونو څخه شمېرل شوی دی.

(البرت) په ډیر مهارت سره په دوامداره توګه دغه موټر راتو کړ او نوموړي دغه موټر د بام پر سر ولاړ و او موټر یې کنټرولو، ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان د (البرت) د غه پزړه پوری حرکت په خپلو ریکارډونو ثبت او تائید کړی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (کویډ) موټر سایکل په مرسته د ډیرو موټرونو پر سر جمپ وهل

دا دګینیس نړیوال ریکارډ سازمان یو کلاسیک ریکارډ دی.
دغه ریکارډ یوځلي پخوا په (آسټرالیا) هېواد کې د (میت کولټر) په نام کس لخوا ترسره شوی وی، نوموړی په دې وتوانېدو، چې د (کوید) موټر سایکل په مرسته (۴۰،۹) متره د موټرونو پرسر جمپ ووهي.
خو دغه ریکارډ د وخت په تیریدو سره مات شو.
آمریکایی (جون ګیتر) په د ې وتوانېدو، چې د (کویډ) موټرسایکل په مرسته (۵۳،۹۲) متر د موټرونو پر سر جمپ ووهي او د (لیون) پخوانی ریکارډ یې مات کړ، نوموړی دغه ریکارډ په (۲۰۰۸) م میلادي کال کې د مارچ پر (۲۹) نېټه په (آسټرالیا) هېواد کې ترسره کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په فیفا لوبه کې د ډېرو ګولونو وهل

**فیفا په نړۍ کې په کمپیوتري ګیمونو کې تر ټولو ډېر مینه وال لـري، خـو پـه حقیقت کې د فوټبال په نړۍ کې بیا د (جرمني) فوټبال لوبډله تر ټولو مخکښـه لوبډله ده، موږ او تاسو شاهدان و، چې (جرمني) د (۲۰۱۴) م میلادي کال نړیوال جام سیالیو کې هم لومړی مقام وګاټه.**

**په فیفا کمپیوټري لوبه کې د ډېرو ګولونو وهلو دغه ریکارډ د (پتریک هـاردلر) لخوا، چې د (جرمني) هېواد اوسیدونکی دی ترسره شو، نوموړی پـه دې لوبـه کې وکولای شول، چې د (۲۰۱۴) م کال د فیفا نړیوال جام سیالیو په شان خپـل ټیم (جرمني) په دې کمپیوټري لوبه کې لومړي مقام ته ورسوي، خو (پتریـک) په دې کمپیوټري لوبه کې (۲۳۱) ګولونه ووهل او دغه لوبـه یـې هـم د همـدې پایلې سره پایلې په خپله ګټه پای ته ورسوله.**

**یعني (پتریک) په یوه کمپیوټري لوبه کې تر ټولو ډېر (۳۲۱) ګولونه و وهل.**

**ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان دغه ریکارډ په رسمي بڼه ثبت او تائید کړی دی.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژبې په مرسته د تلکونو خنثاکول

یو ډېر پزړه پوری او حېرانونکی ریکارډ، دغه ریکارډ د ژبې په مرسته د مګکانو د تلکونو خنثا کول دي، دغه ریکارډ د (روبرت) لخوا د (۲۰۱۱) م میلادي کـال د جولای پر (۸) مه نېټه ترسره شوی دی.

نوموړی ریکارډ له دې وړاندې د (رولاند) لخوا، چې د (برازیل) هېواد اوسیدنکی دی ترسرشوی وی، خو دغه ریکارډ بیا په (۲۰۱۱) م میلادي کال کې د (روبـرت) لخوا بېر ته مات شو.

(روبرت) د دې ریکارډ په ترسره کولو سره ډېری نړیوال حیران کړل او ډېریـو ته هم د خندا وړ ریکارډ و.

د نوموړي ریکارډ ترسره کېدل ډېر ګران کار دی خو (روبـرت) بیـاهم دې تـه چمتو شو، تر څو دغه ریکارد ترسره کړي.

(روبرت) په یوه دقیقه کې په دې توانېده، چې ډېر شـمېر د مګکـانو تلکونـه د ژبې په مرسته خنثا کړي.

نوموړی د ریکارډ د ترسره کېدو وروسته لږ څه سطحی په ژبه باندی ژوبل شوی هم و خو دا، چې د رسنۍ او ډېرو کسانو پر وړاندې ولاړ و خپل احساس یې پـه الفاظو باندې نشو بیانولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# چټک سرعت

**د ځمکې پر سره چټک سرعت یو له نړیوالو ریکارډونو څخه شمېرل کېږي، چې یو ډېر حیرانونکی ریکارډ هم ګڼل شوی دی، نوموړی ریکارډ د موټرو جوړولو او ماشین جوړلو کمپینو ته یو ستر چلنج ګڼل کېږي، د چټک سرعت ریکارډ د (اندي ګرین) لخوا ترلاسه شوی دی، نوموړي د یوه چټک ماشین په جوړلوسره وکولای شول، چې په نړۍ کې د ځمکې پرسر چټک سرعت د خپل په نامه ثبت ته ورسوي.**

**دغه ریکارډ د دوه کسانو لخوا لاس ته راغلی، یعني نوموړی ماشین د (ګرین) او (ریچارډ) لخوا جوړ شوی دی، د دې ریکارډ ډېر امتیاز (ګرین) ته ور پـه برخـه کېږي او (ریچارد) پـه دې ریکارډ کې یوازې له (ګرین) سـره مرسـته کـړې ده، (ریچارډ نوبل) چې پخوا یې هم دې ته ورته ریکارډونـه پـه (۱۹۸۳) او (۱۹۹۷) کلونو کې ثبت کړی و، د دې ماشین په رامنځته کېدو سره یې پخوانی ریکـارډ مات شو او اوس مهال د چټک سرعت ماشین دغه ریکارډ د (ګرین) پـه نامـه و نومول شو.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# برعکس (سرچپه) تاوېدل

یو ډیر پزړه پوری او جالبه ریکارډ، چې په لوستلو سره یې حېرانیږی، دغه ریکارډ په بادي تونل کې سرچپه یا برعکس تاوېدل دي.
دغه پزړه پوری ریکارډ د (جانتون لوهو جی) لخوا، چې د (سنگاپور) هېواد اوسیدونکی دی تر سره شوی دی، (جانتون) د دې ریکارډ په سرته رسولو سره وکولای شول، چې یو نړیوال ریکارډ په خپل نوم ثبت کړي او له دې لارې یې ځان نړیوالو ته ور وپېژانده.
په بادي تونل کې برعکس یا سرچپه تاویدل هغه هم تر یوې دقیقې پورې، چې ډیر ستونزمن کار دی، خو (جانتون لوهو جي) په دې بریالی شو، چې یوه دقیقه په دې بادي تونل کې برعکس پر سر باندې تاو راتاو شي نوموړی په یوه دقیقه کې (۵۰) ځلي برعکس په سرباندې و څرخېده
(جانتون) دغه ریکارډ د (سینګاپور) هېواد په (سیتوسا) سیمه کې د (۲۰۱۵) میلادي کال د مې پر (۲۱) مه نېټه ترسره کړ، چې دګینیس نړیوال ریکارډ سازمان ثبت او تائید شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوبو لاندې د بایسکل ځغلول

د نړۍ له مهمو او حیرانوکو ریکارډونو څخه د اوبو لاندې د بایسکل ځغلول.
کله به مو باسیکل چلولی وي، چې ډیرو ته د بایسکل ځغلول هم ګران کار ښکاري، خو دا ځل مو ږ تاسو ته د داسې بایسکل ځعلولو په هکله معلومات وړاندې کو، چې د اوبو لاندې چلول شوی دی.
دغه ریکارډ د یوه (فرانسوي) تکړه لوبغاړي لخوا سرته رسېدلی دی، دی (لود ویفک دیلي ګیرت) نوموړي، له دې ریکارډ څخه دا په ورایه ښکاري، چې دی یوه تکړه لوبغاړی دی ځکه، چې د اوبو لاندې له اکسجین پرته تر ډیره ځنډه پورې په نوموړي بایسکل پای ډل و واهه.
(لود ویک) د (فرانسې) هېواد اوسیدونکی دی، دی په دې وتوانېده چې (۷۰۲) متره، چې (۲،۳۰۳) فیټه کېږي د اوبو لاندې مزل وکړي.
دغه ریکارډ، چې د نړۍ له مهمو ریکارډونو څخه شمېرل کېږي، د (۳۰۰۳) م میلادي کال د جولای پر (۲۹) مه نېټه د (فرانسې) په (بینو دیت) سیمه کې ترسره شوی دی.
د باسیکل ځغلولو ریکارډ، چې د (لود ویک) لخوا ترسره شو رسما د ګینیس نړیوال کتاب کې ثبت او راجستر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوړه (دنګه) غوا

په نړۍ کې ډېری داسې کسان شته، چــې پــه یــوه ډول نــه یــو ډول نړیــوال ریکارډونه ترسره کوي، ډېری لوبغاړي د خپلو ورزشي حرکتونو په مرسته، همدا ډول د موټر جوړونکو کمپنیو مالکان هم د موټرو په جوړولو سره غــواړي، چــې بېلابېل ریکارډونه ثبت کړي.

خو دا ځل تاسو ته داسې ریکارډ در پېژنو، چې یوې ښځې د یوې غوا په ســاتلو سره نړیوال ریکارډ ترلاسه کړی دی، د دې غوا ساتونکې (پاتي میدس هــانس) نومېږي او غوا یې هم د (امریکا بلاسم) ځلي په نامه نومول شوې ده.

د دې غوا لوړوالی (۱۹۰) سانتي متره دی، چې (۸،۷۴) اینچــه کېــږي او رســما دګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا د نړۍ دنګې غوا په نامه وپېژندل شوه.

دغه ریکارډ په (۲۰۱۴) م میلادي کال کې لاسته راغی او په همدې کــال کــې د دغې غوا لوړ والی اندازه شوی وی، چې رسما د ګینیس وروډ ریکــارډ ســازمان لخوا تاید او ثبت ته ورسیده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر سر باندې د اوسپنیزو سیخانو قاتول

حېرانونکی ریکارډ او خطرناکه ریکارډ، چې پر سر باندې د اوسپنیزو سیخانو قاتول دي.

د ډیرو سیخانو قاتولو ریکارډ د (الکساندر) لخوا، چې د (روسي) هېواد څخه دی په یوه دقیقه کې ترسره شوی دی، نوموړی په دې وتوانېده چې په یوه دقیقه کې ډیر اوسپنیز سیخان د خپل سر په مرسته قات کړي.

دغه سړی چې د (۴۳) کلونو دی، د دې ریکارډ په ترسره کولو سره یې دا ښکاره کړه، چې د ډیر ځواک څخه برخمن دی، د سیخانو قاتلو ریکارډ په یوه تفریحي سیمه کې د ننداره چیان پر وړاندې ترسره شو او همدا ډول ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان نوموړی ریکارډ په رسمي بڼه ثبت او تائید کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# له ډېرو کسانو سره لاس ورکول

یو ډېر جالبه او ساده ریکارډ، چې ترسره کول یې هر چاته یو ساده او اسان کار دی.
دغه ریکارډ له ډیرو کسانو سره لاس ورکول دي، د (امریکا متحده ایالاتونو) په (کلفورنیا) ایالت کې د (لیورمور کالفرونیا) ښونځي یو ښونکی نوموړی ریکارډ په همدې ښونځي کې له ډېر شمېر زدکونکو سره ترسره کړی دی.
د لاس ورکولو ریکارډ پخوا هم ترسره شوی و خو داځل دغه ریکارډ د دې استاد لخوا مات شو، پخوانی ریکارډ د (۲۱۵) کسانو سره لاس ورکول و، خو دا ځل د (لیور مور کالفرونیا) استاد په چټکۍ سره په یوه دقیقه کې له (۲۶۰) کسانو سره لاس ورکړ او دغه ریکارډ یې په خپل نوم ثبت ته ورساوه.
ګینیس نړیوال ریکارډ سامان د نوموړي دغه ریکارډ په رسمي بڼه تائید او ثبت کړی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په لوړه سیمه کې ترسره شوې اور لوبه

د (۲۰۱۴) میلادي کال شپه په دوبۍ ښار کې یوه نه هېردونکې شپه وه، چې نړیوال ورته ګوته په غاښ پاتې شول.
د (۲۰۱۴) میلادي کال د نوي کال په ویاړ (۵۰۰,۰۰۰) په شاوخوا کې د اور لوبې پلانونه په پام کې نیول شوي و، چې د اور لوبې دا ټول پلانونه به په (۶) دقیقو کې د نوي کال په شپه سرته رسیږي.
دغه راز د ګینس ورد ریکارد سازمانان تائید کړه، چې په دوبۍ ښار کې د نړۍ تر ټولو په لوړه سیمه کې د اور لوبې تر سره شوې دي او د دې سره (دوبۍ) ښار یو نوی نړیوال ریکارد خپل کړ.
دغه اور لوبې د دوبۍ ښار په لوړ پوړیزو ودانیو کی ترسره شوې وې، چې په هغوی کی د (خلیفه) او (حرب) لوړ پوړیزې ودانۍ هم شاملې دي، د (۲۰۱۴) م کال د نوي کال شپې اور لوبې (۹۴) کیلومټره ساحه تر پوښښ لاندی و نیوله او د دې ښار څېره یې ور بدله کړې وه.



د لوړې سیمې څخه ټوپ وهل

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو حيرانونکی ريکارډ، د لوړې سيمې ځخه ټوپ وهل، نوموړی ريکارډ د (ويني) لخوا چې د (انګلستان) هېواد اوسيدونکی ترسره شوی دی.

انګلستانی (ويني) په دې و توانېده، چې د (۴،۱) متره لوړې فاصلې ځخه د سيکل لوړ جمپ (ټوپ) ووهي، نوموړی د دې ريکارډ په ترسره کولو کې يوځلې پاتې راغلی و، خو له ډېرو کوښښونو وروسته په دوهم ځلي په دې کار بريالی شو او د لوړې سيمې ځخه د ټوپ وهلو ريکارډ يې رسما په خپل نوم ثبت ته ورساوه.

(ويني) د (۴،۱) متره لوړې فاصلې ځخه د سيکل جمپ په (۲۰۱۳) ميلادي کال کې ترسره کړ، چې د ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان لخوا تائيد او ثبت شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په اوبو کې د سر په مرسته د فوټبال توپ کنټرول

دغه حیرانونکی ریکارډ په (کیوبا) هېواد کې ترسره شوی دی.

په اوبو کې د فوټبال توپ په مستقیمه توګه پورته اوچول او بیا پـر سـر بانـدې بېرته د توپ کنټرولو ریکارډ د (جوین لوفینت) لخوا، چې خپله د (کیوبا) هېواد څخه دی ترسره شوی دی.

(جوین لوفینت) د فوټبال یوه تکړه لوبغاړی دی او په دې وتوانېده، چې (۱۵۰۳) ځلي د فوټبال توپ په دوامداره توګه پورته واچوي او بیا یې په مستقیمه توګـه بېرته کنټرول کړي، د نوموړي دغه ریکارډ رسـما د ګینـیس نړیـوال ریکـارډ سازمان لخوا ثبت او تائید شو.

دغه ستونزمن ریکارډ په (۲۰۱۳) میلادي کال کې د (کیوبا) په هېواد کې ترسره شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ له لوړې سمې ښخه ټوپ وهل

پږه پوری او حېروانوکی ریکارډ، دغه ریکارډ د نړۍ تر ټولو لوړ جمپ یا ټوپ وهل دي، دغه ریکارډ د (روسیې) هیواد ښخه یو تکړه لوبغاړی، چې (ویلري روزوف) نومیږي ترسره شوی دی.
دغه روسی لوبغاړی د (همالیا) غرونو په لوړو څوکو کې له (۷۲۲۰) متره لوړ ځای ښخه توپ و واهه، چې له دې سره د نړۍ تر ټولو لوړ د ټوپ وهلو ریکارډ یې په خپل نوم ثبت ته ورساوه، نوموړی ریکارډ د (ویلري روزوف) لخوا په (همالیه) غرونو کې ترسره شو او رسما د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا ثبت او تائید شو.
(۴۷) کلن (روزوف) په (۶) ورځو کې له سخت تمرین وروسته د (همالیه) غره څوکې ته ځان ورساوه او بیا یې له ځانګړو جامو په اغستولو سره په (۹۰) ثانیو کې د واورینو غرونو ښخه لاندې ټوپ وکړ.
(روزوف) دغه ریکارډ په (۲۰۱۳) م میلادي کال د مې پر (۵) مه نېټه ترسره کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه سپورټي حرکتونه، چې په یوټوب کې یو ډېر لیدونکي درلودل

د یوټیوب ویب پاڼې سوپرستار (مایک چعنګ) په (۲۰۱۴) م میلادي کـال کـې دوه پزړه پوري ریکارډونه ترلاسه کړ، دغه تکړه لوبغاړی چې تل بـه یـې خپـل بېلابېل ورزشي حرکتونه د انټرنټ له لارې په یوټیوب ویډیو پاڼه کې خپرول له ډېرو کسانو لخوا به پر دې ویب پاڼه کې لیدل کېدل.
د نوموړې هره یوه اپلوډ شوې ویډیو به پر یوټوب له (۳.۲) میلیونه ډېر لیدونکي درلودل.
(مایک چعنګ) خپل (۲) نوي سپورټي حرکات چې پر یوټوپ خپاره شـوي و د ډېرو کسانو تر لیدو وروسته نړیوال ریکارډ ترلاسـه کـړ او د ګینـیس نړیـوال ریکارډ سازمان لخوا ثبت او تائید شول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (۴۰) پونډه وزن سره د سینه کشۍ (پل اپ) حرکت ترسره کول

دغه لوبغاړی خپل لومړی ریکارد په (۲۰۱۴) م میلادي کال کې ترسره کړ، دغه ریکارد د (۴۰) پونډه وزن سره د (پل اپ) حرکت ترسره کول دي (مایک) په خپل دې ورزشي حرکت سره چې (۴۰) ټنه وزن یې هم په خپلو اوګو باندې ایښی و په یوه دقیقه کې (۱۳) ځلي د (پل آپ) حرکت ترسر کړ، چې د ګینیس ورودې ریکارډ سازمان لخوا رسما تائید او خپور شو.



همدا ډول په یوه دقیقه کې (۴۵) ځلي د سینه کشۍ حرکت

دا د (مایک) دویم ریکارډ، چې په (۲۰۱۴) م میلادي کال کې خپور شو، (مایک) داځل د سینه کشۍ حرکت په ساده توګه ترسره کړ، خو په دې حرکت کې هم بریالی شو او نړیوال ریکارډ یې ترلاسه کړ، نوموړی په یوه دقیقه کې (۴۵) ځلي د پل آپ یا د سینه کشۍ حرکت ترسره کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د نوموړي دغه چټک حرکت په رسمي بڼه د ګينيس نړيـوال ريکـارډ ســازمان لخوا ثبت ته ورسيد او په (۲۰۱۴) م کال کې نوموړی دوځلي پــه دې وتوانېــده، چې نړيوال ريکارډ ترلاسه کړي.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موټرونو لاندې تېرېدل

د سپورتي ریکارډونو په لړ کی یو بل په زړه پوری ریکارډ.
ځوان او تکړه ورزشکار (روهن ارجیت) په دې بریالی شو، چې تر ډېرې فاصلې پورې د موټرونو لاندې تېرشي.
(روهن) په ډېر زړورتیا سره (۶۸،۳۸) متره واټن، چی (۱۲۶) فوټه او (۱۱) اینچه کیږی د (لمپو سکیتنګ) تختې په مرسته د موټرو لاندې مــزل وکــړ، نومــوړي دغه ورزشي حرکت د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا په رسمی بڼه تائیــد شو.
د موټرونو لاندې تېرېدلو ریکارډ په (۲۰۱۱) م میلادي کال کې د فبرورۍ پر (۱۷) مه نېټه د (هندوستان) هېواد په (ممبی) ښار کې ترسره شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په هواکې د تختو ماتولو ریکارډ

د خطرناک او ستونزمنو ریکاردونو په لړ کی دا دی تاسو ته یو بل پــزړه پــوری ورشي حرکت در پېژونو.

دغه پزړه پوری ریکارډ د (جانسن دیوید فرانک) لخــو ترســره شــوی دی، دې تکړه لوبغاړي خپلو ملګرو سره د یوه نوي ریکارډ په ترســره کولــو ســره ځــان نړیوالو ته ور وپېژانده او خپل نوم یې په ګینیس وروډ ریکارډ کتاب کې ثبت ته ورساوه.

(جانسن) د خپلو ملګرو سره یوځای د دې ریکارډ د ترسره کولو لپاره د طیارې په مرسته د لوړې فاصلې څخه ځان لاندې واچــوو او پــه هــوا کــې د مختفلــو حرکاتو په ترسره کولو سره ټاکل شوې تختې ماتې کړې.

دغه راز (جانسن) چی د هــوایي حرکــاتو یــو ســتوری هــم دی تــل یــې زړه راښکونکي حرکات تر سره کړي او په دې برخه کې یې د (پاور رینجر) لقب هم تر لاسته کړی دی.

(جانسن) خپل دغه ورزشي حرکت د (۱۶۰۰۰) فیټه لوړې فاصلې څخه له خپلــو ملګرو سره یو ځای ترسره کړ او په (۷۰) ثانیو کې (۱۲) دانې تختې ماتې کړي، د دې ورزشي ټیم دغه کار په نړیوالو ریکارډونو کې د یوه نوي ریکارډ په بڼه ثبت ته ورسېده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوک وهنه

د سوک وهنې یو تکړه لوبغاړی په دې و توانېده، چې خپل نوم د ریکارډونو په نړیوال کتاب کې ثبت ته ورسوي، دغه لوبغاړی (انتونی کلې) نومیړي او د (استرلیا) هېواد اوسیدونکی دی.

(انتوني) په دې و توانېده، چې په یوه دقیقه کې (۳۴۷) ځلې د سوک وهنې حرکت په دواړه لاسونو تر سره کړي او یو نوی نړیوال ریکارډ جوړ کړي، دغه ریکارډ د (سیون) استډیو لخوا د (استرالیا) په (سدني) ښار کې ترسره شوی دی.

نوموړی ریکارډ رسما د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا تائید شو، خو د دی امکان شته، چې د بل کس لخوا مات شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په یوه وخت کې د دوه وو توپونو تاوول

د (چین) هیواد څخه یو تکړه ځوان د توپونو په مرسته یو نوی نړیــوال ریکــارډ جوړ کړ، دغه ریکارډ په یوه وخت کې د دوه توپونو تاوول تر ډیره ځنده پــورې دي.
د غه ریکارډ د (چنایي) (چن) لخوا ترسره شودی نوموړی په دې و توانېده، چې دوه توپونه په یوه وخت کې په ګوتو باندې (۴) دقیقې او (۲۶) ثانې پورې را تاوو کړي او د نړۍ په کچه یو نوی نړیوال ریکارډ جوړ کړ.
د دې تکړه ځوان دغه ریکارډ د ډیرې کسانو د پام وړ وګرځېده او په مختلفــو انټرنټي ویب پاڼو کې هم خپور شو، دغه ریکارډ د ګینیس نړیوال ســازمان پــه ورزشي ریکارډونو کې ثبت او تائید شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ګوتو باندې ودرېدل

دغه پزړه پوری او جالبه ریکارډ په (چین) هېواد کې د یوه تکړه لوبغاړي لخوا ترسره شوی دی، دغه لوبغاړی (وانګ) نومیږي او خپله هم د همدې هېواد اوسیدونکی دی، (وانګ) په دې و توانېده چې په څلورو ګوتو باندې تر ډېره څنډه پورې ودریږي او یو نوی نړیوال ریکارډ جوړ کړي.
(وانګ) تر (۱۹،۲۳) ثانیو پورې په خپلو څلورور ګوتو باندې ودرېده او له دې سره یې نړیوال ریکارډ ترلاسه کړ، چې دغه ریکارډ رسما د ګینیس نړیوال سازمان لخوا تائید او خپور شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په لاسونو باندې د وزن نیول

د نړیوالو ریکارډونو په لړ کې یو بل ریکارډ، چې تر ډېره ځنده پوري د (۲۰) کیلو ګرامه وزن نیول په دواړو لاسونو باندې دی.
دغه ریکارډ په (جرمني) هېواد کې د یوه تکړه پهلوان لخوا ترسره شوی دی، دغه پهلوان (پتریک) نومیږي او په ډېرې ځواکمنتیا سره په دې وتوانېده، چې (۲۰) کیلو ګرامه وزن په مستقیمه توګه د دواړو لاسونو په مرسته تر یوې دقیقې او (۱۴.۲۶) ثانیو پورې ونیسي او یو نړیوال ریکارډ په خپل نوم ثبت کړي.
دغه جالبه او په زړه پوری ریکارډ د (۲۰۱۲) م میلادي کال د جولای پر (۱۷) مه نېټه تر سره شوی دی، چې د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا رسما تائید او خپور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په یوه وخت کې د باسکیټبال د څو توپونو تاوول

دغه پزړه پوری ریکارډ په (امریکا متحده ایاتو) کې ترسره شوی دی.
نوموړی ورزشي حرکت د بسکیت بال یو تکړه لوبغاړي لخوا ترسره شـو، دغـه لوبغاړی په دې و توانېده چې په یوه دقیقه کې د باسکیت بال (۲۸) دانې توپونه په یوه فرم کې یوځای را تاو یا وڅرخوي.
دغه پزړه پوری ریکارډ په (انګلستان) هېواد کې د (لندن) ښار په ګینـیس ورډ ریکارډ سازمان یوه ننداړتون کې ترسره شو.
د باسکیت بال توپون یوځای څرخولو ریکارډ په رسمي بڼه د ګینـیس نړیـوال ریکارډ سازمان لخوا تائید او خپور شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موټر په مرسته ریورس جمپ وهل

د نړیوالو ریکارډونو په لړ کې یو حیرانونکی ریکارډ، چې په ډېر مهارت سره ترسره شوی دی، موږ او تاسو به کله د ټلویزیون په پرده د سپورټي موټرونو په مرسته ترسره شوي جمپونه لیدلي وي، خو دا ځل تاسو ته داسې یو ریکارډ در پېژنو، چې د همدې ورزشي موټرونو په مرسته ترسره شوی، دغه ریکارډ د موټر په مرسته (ریورس) جمپ وهل دي.
تر ټولو اوږد او لوړ (ریورس) جمپ د (پراب دیرډیک) لخوا ترسره شو، (پراب) د (شورلیت سونیک) موټر په مرسته په دې وتوانېده، چې په ډېر مهارت سره (۸۹) فیټه یعني (۲۷،۲۱) متره اوږد (ریورس) جمپ ترسره کړي.
د (پراب) دا حیرانونکی ریکارډ د ډېرو نړیوالو خوښ شو او ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان رسما دغه ریورس جمپ په نړیوالو ریکارډونو ثبت کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په روان موټر باندې جمپ وهل

د ګینس نړیوال ریکارډ سازمان دغه ریکارډ، دیوه لوړ ځای څخه په روانه (لارۍ) باندې جمپ وهل دي، دغه جمپ د (۱۴) فوټه لوړ ځای څخه ترسره شوی دی.

دغه خطرناک ریکارډ د (دیلین بیکر) لخوا د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان په یوه ننداړتون کې ترسره شوی دی، (بیکر) د (۱۴) فوټه لوړ ځای څخه وکولای شول، چې په دې روانه لارۍ باندې جمپ ووهي او یوه نوی نړیوال ریکارډ د خپل په نوم ثبت ته ورسوي.

نوموړی ریکارډ رسما د ګینیس ورود ریکارډ سازمان لخوا تائید او خپور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په افقي ډول د لس کيلو ګرامه وزن نيول

د سپورټ په ډګر کې ډيرۍ لوبغاړي په دې کوښښ کې دي، چې د خپلو ورزشي حرکتونو په مرسته نړيوال ريکارډونه ترسره کړي او ځان نړيوال ته وپېژني.

په افقي د لس کيلوګرامه وزن نيول په لاسونو باندې يعني په هر لاس کې پنځه پنځه کيلو ګرامه وزن نيول.

دغه ريکارډ په لومړي ځل د (فرانسې) هېواد څخه يو تکړه لوبغاړ چې (يانيک) نوميږي ترسره شوی و، (يانيک) په دې و توانېده چې لس کيلو ګرامه وزن تر يوې دقيقې او (۱۸) ثانيو پورې په خپلو لاسونو کې ونيسي، خو اوسمهال دغه ريکارډ د (روبين سيمانو) په نوم يو لوبغاړي دغه ريکارډ مات کړ، دغه تکړه له دې وړاندې (۱۴) ځلي د ډير وزن په پورته کولو کې کې هم اتل شوی دی.

(سيمانو) د پخواني ريکارډ په ماتولو سره په دې وتوانېده، چې (۱۰) کيلو ګرامه وزن په افقي ډول د خپلو لاسونو په مرسته تر (۱) دقيقې او (۳۹) ثانيو پورې ونيسي او يو نوی نړيوال ريکارد جوړ کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غوړیو په بېلرونو باندې د موټر سایکل په مرسته حرکت کول

دوه ډېر تکړه موټر سایکل چلونکي، چې (کرس بیرچ) او (جک ویتکر) نومیږي دغه ریکارډ ترسره کړی دی، نوموړي کسان د موټر سایکل په چلولو کې ډېر مهارت لري او د خپل همدې مهارت سره نړیوال ریکارډ یې تر لاسه کړ.
دغه پزړه پوری ریکارډ موټر سایکل په مرسته په (۲۱) د غوړیو بېلرونو باندې په کم وخت کې حرکت کول دي، په لومړي ځل باندې دغه ریکارډ د (یوګین) لخوا، چې د جرمني هېواد اوسیدونکی دی تر سره شو، نوموړي ده دغه ریکارډ په (۱۲،۶) ثانیو کې ترسره کړ.
له دې وروسته بیا دغه ریکارډ د (جیک ویتکر) لخوا ترسره شو او پخوانی ریکارډ یې مات کړ،(جیګ) په لمړي ځل دغه ریکارډ په (۴.۱۲) ثانیو کې تر سره کړ، یعني د مخکني ریکارډ څخه د دوه ثانیو په توپیر یې دغه ریکارډ په خپل نوم کړ.
خو د ورستي ځل لپاره دغه ریکارډ د (بیرچ او جک) لخوا په (۷۵.۱۱) ثانیو کې ترسره شو او ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان دغه ریکارډ د دوی په نامه ونوموه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په سر باندې د کانکريټي پليټونو ماتول

د نړۍ په سطح ډېرى لوبغاړي په دې هڅه کې دي، چې خپلو مهارتونو سره نوي ريکارډونه ترسره کړي او د ګينيس ورډ ريکارډ په کتاب کی خپل نومونه ثبت کړي.

دغه راز په (۲۰۱۱) ميلادي کال کې د اپريل پر (۱۴) مه نېټه د (امريکا متحده ايالاتونو) څخه يو تکړه لوبغاړى، چې د (جوان فيرارو) په نوم يو ډېر ستونزمن ريکارډ تر سره کړ.

نوموړي په خپل سر باندې ډېر شمېرى کانکريټي پليټونه په داسې حال کې مات کړل، چې (کانکريټي) پليټونه د دې لوبغاړي پر سر ايښودل شوي وى او د يو بل کس لخوا د يوې لوړې فاصلې څخه د بولينګ توپ، چې (۳,۷) کيلو ګرامه وزن لري د غه کانکريټي پليټونه مات شوي دي.

(جوان فيرارو) په دې وتوانېده، چې دغه ستونزمن ريکارډ ترسره کړي او په يوه وخت کې يې (۴۵) دانې کانکريټي پليټونه په خپل سر باندې مات کړل.

ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان دغه ريکارډ په خطرناکه او ستونزمنه ريکارډونو په ډله کې ثبت ته ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# کولپ شوې او د اور څخه د ډکو دروازو خلاصول

د نړیوالو ریکارډونو په لړ کی یو بل جالبه او په زړه پوری ریکارډ، چې د بېلابېلو کسانو لخوا په مختلفو وختونو کې تر سره شوی دی.
دغه ریکارډ په کم وخت کی په چټکۍ سره د لس اور ورته شـــوو او قفـــل شـــوو دروازو خلاصول دي، دغه جالبه او پـــه زړه پـــوری ریکـــارډ پـــه لـــومړي ځـــل د (جرمني) هېواد څخه یوې ښځی په (۲۳) ثانیو کې تر سره کړ.
له دې ښځې وروسته په (۲۰۱۰) م میلادي کال د جنورۍ پر (۱۰) مه د (وینیســـا مایر) په نوم یوه ښځه په دې وتوانېده، چې لس اور ورته شوې او کولـــپ شـــوې دروازې په (۳۲.۱۷) ثانیو کې خلاصې او ماتې کړي، (وینیسا مایر) دغه ریکارډ د (۵،۵) ثانیو په توپیر مات کړ او دغه ریکارډ یـــې پـــه ګینـــیس نړیـــوال ریکـــارډ سازمان کې ثبت ته ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ تر ټولو لوی او ستر روبات

دغه روبات (ثياني) نوميږي او متحرکه دی، چې کولای شي حرکت هم وکړي.
د (ثياني) روباټ لوړ والی (۲۰،۸) متره ثور يې (۳۳،۱۲) متره او اوږد والـی يـې (۷۲،۱۵) مترو ته رسيږي.
دغه ستر روباټ په (۲۰۱۲) م ميلادي کې د سپټمبر په (۲۷) مه نېټه د (جرمني) هېواد (الترونيک مارکر) يا (زورنل الکترونيک اې جې) کمپنۍ لخوا جوړ شـوی دی.
(ثياني) روباټ د ښامار په شکل جوړ شوی دی او کولای شي، چې د خـولې لـه لارې اور هم وغورزوي، دغه روباټ نړيوالو ته د يوه اور غورزونکي روباټ په نامه پېژندل شوی دی، نو موړی روباټ (۱۱) ټن وزن لري او د دوه ليټره تربو ډيزلـي انجن په مرسته، چې (۱۵۰) هارس پاوره دی خپل کار سرته رسوي، همـدا ډول (۲۴) پونډه مايع ګاز د دې روباټ په سيســتم کــې کــارول شــوي دي، ترڅـو نوموړی روباټ د خپل خولې له لارې اور وغورزوي.
په (ثياني) روباټ کې بېلابېل ټکنالوژيکي وسايل کارول شوي دي، چې روبــاټ ته يې لا ښکلا ور ښښلې ده، د (زورنل الکترونيک اې جې) کمپنــۍ ويانــد د دې روباټ په هکله وايي، چې دغه روباټ د لوی جسامت، ښايسته ډيزائين او پرمخ تللي سيستم سره په نړيوال کتاب کې يې نوم د يوه ريکارډ پــه بڼــه ثبــت تــه رسيدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ تر ټولو لوړ آس

د نړۍ لوړ اس چې نړیوال ریکارډ ترلاسه کړی دی.
دغه آس (بیګ جیګ) نوموړي او په (۱۱) کلونـــو کـــې د نـــړۍ تـــر ټـــول جیـــګ قدرولونکي (اس) په نامه ونومول شو، یعني په (۱۱) کلنۍ کې یې دغـــه ریکـــارډ ترلاسه کړ، دغه ریکارډ د (۲۰۱۳) م میلادي کال د جنورۍ په مباشت کې لاسته راغلی دی.
ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان درې ځلي (بیګ جیګ) په سمه او معیاري توګه اندازه کړ او بیا یې د نړۍ لوړ قد لرونکي اس په نامه ونوماوه.
د دې اس لوړ والی (۱۹،۲۱۰) سانتي متره دی او (۲۴۰) کلیو ګرامه وزن لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژبې په مرسته د ډېر وزن اوچتول

د کلونو په تېریدو سره په نړۍ کې ډېری کسان بېلابېل ریکارډونه ترسره کړل او د ګنییس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا د ریکارډونو په بڼه ثبت شول.
داځل تاسو ته یو ډېر جالیه ریکارډ در پېژنو، دغه ریکارډ د ژبې په مرسته د ډېرو وزن پورته کول دي.
نوموړی ریکارډ د (ټامس بلک ټان) لخوا ترسره شوی دی د (انګلستان) هېواد دی.
(ټامس بلک ټان) د خپلې ژبې په مرسته (۱۲،۵) کیلو ګرامه وزن په (۲۰۰۸) م کال د اګست په (۱) نېټه د (مکسیکو) هېواد د ګینیس نړویوال ریکارد سازمان په استډیو کې وچت کړ، نوموړي له دې وړاندې هم ډېر ریکارډونه ترسره کړي دي، چې د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا ثبت او تائید شوي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په موازي توګه د موټر پارکول

د ریکارډونو په نړۍ کې یوشمېر ریکارډونه د موټرونو په مرستـــه هـــم ترســـره شوي دي.

دا پزړه پوری ریکارډ د دوه موټرونو ترمنځ د موټر پارکول دي هغه هم په موازي شکل باندې، دغه ریکارډ د ډېرو کسانو لخوا ترسره شوی دی، خو تر ټولو ښه او غوره ریکارډ یې د دوه ورونړو لخوا، چې د (انګلستان) هېواد څخــه دي ترســـره شوی دی.

دوی په دې وتوانېدل، چې په ډېره کمه فاصله کې خپل موټر موازي پارک کړي، (الستېر) او (جان) دغه ریکارډ د (۲۰۱۳) م کال په ورستیو کې ترسره کـــړ، دوی په دې بریالي شول چې خپل موټر په (۱،۱۳) سانتي مترو په فاصله د دوه نـــورو موټرو تر منځ خپل موټر په موازي توګه پارک کړي، ګینـــیس نړیـــوال ریکـــارډ سازمان په موازي توګه د موټر پارکولو ریکارډ په رسمي بڼه په خپلو ریکارډون کې او تائید کړی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د واټر جیت په مرسته په اوبو کې ملاق وهل

په (۲۰۱۲) م میلادي کال کې په (چین) هېواد کې هم ډېرۍ ریکارډونه ترسره شول، چې دا ریکارډونه نړیوالو ته هم ډېر پزړه پوري و، له دې څخه مو تاسو ته دوه پزړه پوري ریکارډونه را اخیستې دي، چې تاسو ته به یې در وپېژنو.

دغه ریکارډ په یوه دقیقه کې د واټرجیت وسیلې په مرسته په او بو کې ملاق وهل دي، نوموړی ریکارډ د (۲۰۱۲) م میلادي د نومبر پر (۲۹) مه نېټه په (چین) هېواد کې ترسره شوی، خو هغه کس چې دغه ریکارډ ترسره کړئ هغه د (فرانسې) هېواد او سیدونکی دی او (پریس ستفین) نومیږي.

(ستیفن) دغه ستونزمن ریکارډ په یوه دقیقه کې ترسره کړ او په یوه دقیقه کې په دې وتوانېده، چې د واټر جیټ په مرسته (۱۰) ځلي په اوبو کې ملاق ووهي او یوی نوی نړیوال ریکارډ یې ثبت ته ورساوه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر سر باندې په پوړیو کې پورته ختل

یو ډیر حېرانونکی ریکارډ، چې ډیری ورته ګوته په غاښ شول، نوموړی رکارډ د (۲۰۱۲) م میلادي کال د ډیسمبر په (۶) مه نېټه ترسره شوی دی، دغه ریکــارډ په سرباندې په پوړیو کې پورته ختل دي.
نوموړی ریکارډ د (زیهو) لخوا ترسره شو دی د (چین) هېواد اوســیدونکی دی، (زیهو) په (۱) دقیقه کې په دې بریالی شو، چې (۳۴) پوړه په سره باندې پورتــه وخیژي د نوموړي دغه کار د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا په رسمي بڼــه تائید او په نړیوال ریکارډ کتاب کې ثبت ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ نوی چټک موټر

د (فورډ) کمپنۍ نوی او په زړه پوری ټکنالوژيکي موټر، چی (فـورډ جــي ټــي) نومیږی د نړۍ تر ټولو چټک موټر ریکارډ یې د ګینس ورډ ریکارډ لخوا تر لاسه کړ.

دغه موټر د (جاني بورنر) لخوا ډیزاین شوی دی، چی د دې موټر د امتیاز خاوند هم دی، دی وایي دغه موټر نه یوازی چټک دی بلکه ډیر ټکنالوژيکي نوښــتونه هم پکې کارول شوي دي دغه راز دغه موټر په دې وتوانېده، چې په یوه ساعت کی (۸۱۷.۴۵۵) کیلو متره یا (۱۷۰۰) مایله مزل وکړي او نــوی نړیــوال ریکــارد ترلاسه کړي.

دغه راز د دې موټر د چټکتیا ټیسټونه په بېلابېلو بڼو د ګینیس نړیوال ریکــارد سازمان لخوا تر سره شوي له ټسیټونو څخه وروسته د (فورد) کمپنۍ دغه موټر په رسمي بڼه نړیوالو ته وړاندی شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په سر باندې د موټر نیول

د نړۍ په کچه ډیرۍ پهلوانان تل داسې حرکات تر سره کوي، چې د یوه ریکارډ په بڼه په ګینیس ورډ ریکارډ کتاب او سازمان کې ثبت شي، دغه راز د کلونو په تېریدو سره د دې پهلوانانو نوي ریکارډونه نړیوالو ته هم ډیر په زړه پورې تمام شوي او هغوی هم د بېلابېلو ویبپاڼو له لارې دغه ریکارډونه ننداره کړي دي.
په سر باندې د موټر رانیولو ریکارډ د (جـان ایـونس) لخـوا ترسـره شـو، دې لوبغاړي د خپل سر په مرسته تر ډیره څنډه پورې یو کوچنی موټر ونیوه.
نوموړی په دی و توانیده چې (۶.۱۵۹) کیلو ګرامه وزن لرونکی موټر په خپل سر باندی تر (۳۳) ثانیو پورې په یوه برابر یعنې مساویانه توګه ونیسي، دغـه پـزړه پوری ریکارډ د (انګستان) هیواد په (لندن) ستوډیو کې ثبت شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په یوه دقیقه کې د ډیرو ښیښو ماتول

د نړۍ تر ټول خطر ناک او ستونزمند ریکاد، دغه خطر ناک او ستونزمند ریکارډ په منډو سره یا په چټکۍ سره د (۱۹) ښیښو ماتول دي، چې باید په (۲۰) ثـانیو کې ماتې شي.

د دې ښېښو د پنډ والي اندازه (۵۹) اینچه اوږدوالی یـې (۷۹) اینچــه دی او د هری ښیښې تر منځ (۱۰) فوټه فاصله شتون لري.

دغه ریکارډ د (مایکل) لخوا تر سره شوی دی.

(مایکل) خپله یو تکړه ورزشکار دی، چی په ډیرې ځواکمنتیا ســره یــې دغــه ښیښې ماتې او د نړۍ په سطحه یې خپل دغه ریکارړد نړیوالو ته ښکاره کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (GTA 5) ګیم پنځه ریکارډونه

د نړیوالو ریکارډونو په لړ کې (GTA5) ویډیو ګیم سافت ویر (۶) پخواني ریکارډونه مات کړل او په خپله یې (۶) نوي ریکارډونه د نړۍ په سطحه ترلاسه کړي دي.
دغه په زړه پورې ویډیو ګیم سافت ویر د (ګرنډ تیفت اوتو) ویډیو ګیمونو پنځمه برخه ده، چې د (GTA5) په نوم هم یادیږي.
دغه خبر د ګینس ورډ ریکارډ د پلټونو نړیوال سازمان تائید کړ، چې (GTA 5) شپږ ریکارډونه ترلاسه کړي دي، نوموړی ویډیو ګیم سافت ویر همدارنګه په (۲۴) ساعتونو کې (۱) بیلیون امریکایي ډالره هم ترلاسه کړي دي، چې په دې برخه کې یې هم نړیوال ریکارډ ترلاسه کړی دی.
دغه ویدیو ګیم سافت ویر د سپټمبر پر (۱۷) مه نېټه د (پلې استیشن) او (ایکس باکس) کنسولونو لپاره رامنځته شو او د (راکستار) ګیم کمپنۍ لخوا جوړ شوی دی.
**د (GTA 5) نوي ریکارډونه داسې بیانولی شو.**
۱ – په (۲۴) ساعتونو کې تر ټول زیات خرڅیدونکی اکشن ویډیو ګیم سافت ویر.
۲ – په (۲۴) ساعتونو کې تر ټول زیات خرڅیدونکی ویدیو ګیم.
۳ – په (۲۴) ساعتونو کې د یو بیلیون امریکایي ډالرو تر لاسه کول.
۴ – په (۲۰۱۳) کال کې تر ټول ښه او غوره ویدیو ګیم سافت ویر.
**او داسې نور:** د دې ویدیو ګیم سافت ویر دغه ټول ریکارډونه د ګینس ورډ ریکارډ په کتاب کې ثبت شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ یخ (سوړ) کنسرټ

د نړۍ تر ټولو جالبه او په زړه پوری کنسرټ، لکه څرنګه چې د مختلفو (راک ستار) هنرمندانو لخوا په بېلابېلو هېوادونو کې کنسرټونه سرته رسیږي او نړیوالو ته د یوه تفریح لامل ګرځي.
د (چارلي سیمپسن) چی د (انګلستان) هېواد اوسیدونکی دی په دې وتوانېده، چې په نوې بڼه کنسرټ خلګو ته وړاندې کړي او د یوه نړیوال ریکارډ په توګه یې ور وپېژانده، (چارلي) د (۲۰۱۲) م میلادي کال د نوامبر پر (۲۴) مه نېټه په دې وتوانېده ترڅو د خپلو څلورو ملګرو سره د څلور ورځو لپاره د (سایبریا) د (پولې اف کولډ) سیمه کې، چې د ځمکې پر سر د تل لپاره یو سوړ ځای دی او منفی (۳۰) درجه سانتی ګریت هوا لري یو کوچنی کنسرټ وړاندې کړي او دغه کنسرت د نړۍ تر ټول یخ یا سوړ کنسرت بلل شوی دی.
په منفی (۳۰) درجې سانتې ګرید هوا کې تر سره شوی کنسرټ رسما د ګینس ورډ ریکارډ سازمان لخوا هم په رسمي توګه تائید شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د توپ کنټرول او د رسۍ لوبه

د سپورټي ریکارډونو په لړ کې یو بل ریکارډ، چې باید په یوه دقیقه کې ترسره شي.

نو موړی ریکارډ په یوه دقیقه کې د رسۍ لوبې ترسره کولو دي هغه هم داسې، چې پر سر باندې د فوټبال توپ هم کنټرول کړي.

دغه جالبه او په زړه پوری ریکارډ د (دنیل کورتي) لخوا تر سره شوی دی (دینل) خپله د (جرمني) هېواد څخه دی او په دې و توانېده، چې په یوه دقیقه کې (۲۷) ځلي د رسۍ لوبه ترسره کړي هغه هم پداسې حال کې، چې توپ یې د خپل سر باندې کنټرولوه.

دغه جالبه او په زړه پوری ریکارډ د (۲۰۱۲) میلادي کال د جولای پر (۱۶) مه نېټه تر سره شوی دی، چې رسما د ګینس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا تائید او خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قمچينې په مرسته د شمعو مړه کول

د (۲۰۱۲) م ميلادي کال د ډسمبر پر (۱۰) مه نېټه د (چين) هېواد څخه يو تکــړه کس په دې وتوانېده، چې يو نړيوال ريکارډ لاسته راوړي.
دغه تکړه او مهار کس د شمعو مړه کولو ريکارډ په يوه دقيقه کې ترســره کــړ، هغه هم پداسې حال کې، چې شمعې يې د قمچينې په مرسته مړې کړې دي، دغه (چينايي) وګړی په دې وتوانېده، چې په يوه دقيقه کې (۷۸) دانې شمعې د قمچينې په مرسته مړې کړې او يو نوی نړيوال ريکارډ يې ثبت ته ورساوه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غاښونو په مرسته د وزن پورته کول

د (جرمني) هېواد څخه يو تکړه لوبغاړی، چې په سپورتي ډګر کې يې خورا ډېر فعاليتونه کړي دي يو حيراونونکی ريکارډ تر سره کړ، دې لوبغـاړي د پـه يـوه دقيقه کې دخپلو غاښونو په مرسته څو ځلي ډېر وزن د ځمکـې څخـه اوچـت کړی دی، نوموړی (راينر) نوميږي او د (جرمني) هېواد اوسيدونکی دی، (رامير) په دې وتوانېده چې په يوه دقيقه کې د خپلو غاښونو پـه مرسـرته (۱۰۰) کيلـو ګرامه وزن (۵۴) ځلي له ځمکې څخه پورته کړي، دغه ريکارډ د نړی په ګـوټ ګوټ کې د نړيوالو د پام وړ وګرځېده.

د وزن پورته کولو ريکارډ په (جرمني) هېواد کـې د (۲۰۱۲) م مـيلادي کـال د جولای پر (۱۴) مه نېټه تر سره شو او د دې امکان هم شـته، چـې د کلونـو پـه تېر ېدو سره بيرته مات شي.

د غاښونو په مرسته د ډېرو وزن وچتولو ريکارډ په رسمي بڼه د ګينيس نړيـوال ريکارډ سازمان لخوا ثبت او تائيد شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دنګه (لوړه) واده شوې جوړه

د نړیوالو ریکاردونو څخه یو په زړه پوری ریکارد، چې د نړۍ تر ټول جیګ قد لرونکې واده شوې جوړه ده.
دغه جوړه یو د باسکتبال لوبغاړی دی، چې (سن مینګ) نومیږي او بل د هند بال لوبغاړې (ایکسو ین) نومیږی، دا دواړه د (چین) هېواد اوسیدونکي دي، نوموړو د (۲۰۱۳) م کال د نوامبر په مېاشت کې د (چین) هېواد په (بیجینګ) ښار کی سره واده وکړ.
د (سن مینګ) قد لوړوالی (۲۳۶,۱۷) سانتی متره دی او دغه کس د باسکیتبال لوبې د جیګ قد لرونکي لوبغاړي ریکارډ هم تر لاسه کړی دی، د (ایکسو ین) د قد لوړوالی (۱۸۷,۳) سانتي متره دی، چی د دواړو د قد مجموعي اندازه (۴۳۷) سانتي متره کېږي، دې دواړو د نړۍ تر ټول د جیګ قد لرونکي واده شوې جوړې ریکارډ په خپل نامه ثبت ته ورساوه.
دغه جوړه د خپل واده څخه ډیر خوشحاله دي او وایي، چې تر دې دمه یې سره ډیر ښه او خوشحاله ژوند تېر کړی دی او راتلونکی ژوند ته هم هیلمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ چټکه شمشتۍ

**د جالبه او په زړه  پورو ریکارډونو څخه یو هم د نړۍ تر ټولو چټک سنګ پشت (شمشتۍ) حیوان ریکارد دی.**
**د دې (شمشتۍ) د سرعت اندازه د (برتي) لخوا اټکل شوې او د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا د نړۍ چټکې (شمشتۍ) په نامه پېژندل شوې ده، دغه (شمشتۍ) په خپلو دوه پښو باندې په یوه ثانیه کې (۰،۲۸) متره، چې (۰،۹۲) فوټه کېږي مزل کوي.**
**له هغې ورځې، چې دا شمشتۍ د نړیوالو ریکارډونو په ډله کې وشمېرل شوه او د ګنینس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا د انټرنټي ویبپاڼو له لارې ور وپېژندل شوه، نو د ورځې په اوږدو کې ډېری کسان یې ننداري ته ورځي او له دې سره انځورنه اخلي.**
**دغه ریکارډ د (برتي) لخوا، چې د طبیعت په برخه کې څېړنې کوي لاس ته راغلی دی، نوموړی ریکار د (۲۰۱۴) م میلادي کال د جولای پر (۹) مه نېټه په (انګلستان) کې د ګینیس  نړیوال ریکارډ سازمان لخوا ثبت او تائید شو.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سپي لخوا د ډيرو توپونو را نيول

لکه څنګه، چې مو تاسو د بېلابېلو حيواناتو پـــزړه پـــورې او جالبـــه ريکارډونـــه معرفي کړي دي، له دې ډلې څخه مو بيا هم تاسو لپـــاره داســـې يـــو ريکـــارډ را اخيستی، چې د سپي په مرسته لاس ته راغلی دی.

دغه ريکارډ په يوه دقيقه کې د سپي لخوا د پښو پـــه مرســـته د ډيـــرو توپونـــو رانيول دي، نوموړی ريکارډ په (جاپان) هېواد کې لاسته راغلی دی.

دغه سپی (پورن) نوميږي او (موکوتو کام ګي) د دې سپي روزنکی دی، نوموړي په ډير زيار باندې داسپی دې ته چمتو کړ تر څو دغه ريکارډ تر سره کړي.

په يوه دقيقه کې د ډيرو توپونو رانيولو ريکارډ د (۲۰۱۵) م ميلادي کال د مـــارچ پر (۲۲) مه نېټه د (جاپان) هېواد په (سوکورا، چيبا) ښار کې لاس ته راغلی دی.

دغه ريکارډ رسما د ګنينس نړيوال ريکارډ سازمان لخوا تائيد او خپـــور شـــوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په (BMX) لوبه کې د بایسکل په مرسته تاوېدل

یو حیراونوکی او پزړه پورې سپورتي ریکارډ، نوموړی ریکار په (جاپان) هېواد کې لاسته راغلی دی.

(۲۵) کلن (تاکاهیروالکیدا) د (جاپان) هېواد اوسیدونکی او د دې لوبې یوه تکړه لوبغاړی دی، (تاکا هیرو) په (BMX) لوبه کې د بایسکل په مرسته بېلابیل او حیراونکي ورزشي حرکتونه ترسره کوي، دغه (جاپانی) لوبغاړی د خپل بایسکل په مرسته په دې وتوانېده، چې یو پزړه پوری ورزشي حرکت، چې د بایسکل په یوه ټایر باندې تر یوې دقیقې پورې تاوېدل دي ترسره او نړیوال ریکارډ یې ترلاسه کړ.

(تاکاهیرو) په ډېر مهارت سره په دې بریالی شو، تر څو د بایسکل په شاتني ټایر باندې دغه حرکت ترسره کړي، نوموړی ریکارډ د (۲۰۱۴) م میلادي کال د جون پر (۲۵) مه نېټه د (ایټالیا) هېواد په (میلان) ښار د ګینیس نړیوال ریکارډ سامان په یوه ننداړتون کې ترسره شوی دی.

دغه ریکارډ د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا په رسمي بڼه ثبت او تائید شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ تر ټول ستر ښکرور غویه

د دې غو يي د ښکرو اندازه (۲۹۷،۸) سانتي متره ښودل شوی دی، دغه ریکارډ د (امریکا) هېواد په یوه حیواني فارم کې لاسته راغلی دی.

دنړۍ د ستر ښکرور غویي ریکارډ د (لیزي بلوګراس) لخوا، چې خپله د (امریکا متحده ایالتونو) په (تګزاس) ایالت کې د یوه حیواني فارم مسول دی لاسته راغلی دی، د دې غویي د ښکرو اندازه د (امریکا) (تګزاس ایالت) په یوه انستیتیوټ کې ترسره شوې او په رسمي بڼه د نړۍ ستر ښکرور غویي لقب یې خپل کړ.

دغه ریکارد د (۲۰۱۴) میلادي کال د اکتوبر پر (۴) مه نېټه د (امریکا متحده ایالتونو) په (تکزاس) ایالت کې د (لیزي بلوګراس) لخوا لاس ته راغلی او په رسمي توګه د نړیوال ریکارډ سازمان لخوا ثبت او خپور شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ تر ټولو چټک موټر چلول

د ریکارډونو په نړۍ کې، موټر چلونکي هم پدې لټه کي دي، چې د موټر په مرسته نوي ریکارډونه رامنځته کړي، داسې ریکارډونه، چی په نړۍ کې یې ساری نه وي او د یوه په زړه پوري نړیوال ریکارډ په توګه وپېژندل شي.

د غه راز د (نیدرلند) هېواد ځخه یو تکړه موټر چلونکی، چی د (لارس ویربریکن) په نوم یادیږي، یو حیرانوونکی ریکارډ تر سره کړی دی، دغه ریکارد په ډیرې چټکی د موټر چلول دي، (لارس) په دې وتوانېده، چې په یوه دقیقه کې (۵۹.۱۷۹) کیلو متره په ساعته کې دغه موټر وچلوي او بیا په یو اړخ موټر ته بریک ورکړي.

(لارس) د دې ریکارډ په ترسره کولو سره په دې وتوانېده، چې د خپل سیالانو پخواني ریکارډونه مات کړي او دغه ریکارډ یې په خپل نامه ثبت ته ورساوه.

نوموړی ریکارډ رسما د ګنینس وروډ ریکارډ سازمان تائید او خپور شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غشو رانیولو ریکارډ

د نړیوالو ریکاردونو په لړ کې یو بل ریکارد، چې په یوه دقیقــه کــې د لاس پــه مرسته د ډیرو غشو را نیول دي، یعني په داسې حال کې، چې دوه کسه د یــوې لرې فاصلې څخه غشي ګذاروي او د ریکارډ تر سره کونکی باید دغــه غشــي د خپل لاس په مرسته په ډیر مهارت سره ونیسي ځکه، چې د ټپي کېدو امکــان یې ډیر دی.

دغه خطرناکه ریکارډ په (جرمني) کې د (جاوي الیکزاندر) لخوا په یــوه دقیقــه کې ترسره شو، دغه ریکارد د د (جرمنی) هیواد کې ترسره شوی دی.

(جاوي الیکزاندر) په دې وتوانېده، چې په یوه دقیقه کې (۱۵) غشــي پــه لاس ونیسي او نړیوال ریکارډ لاس ته راوړي.

دغه جالبه ریکارډ د (۲۰۱۲) م کال د اپریل په مباشت کې د (ایټالیا) پــه هیــواد کی ترسره شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوبو په نړۍ کې تر ټولو ستر ماشين

دلوبو دغه ستر ماشين د يوه ريکارډ په بڼه د ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان د (۲۰۱۶) م کال کتاب کې ثبت او خپور شوی دی.

دا د لوبو ستر ماشين په امريکاه متحده ايالاتو کې جوړ شوی دی. د دې ماشين د لوړ والي اندازه (۴،۴۱) متره او لنډ والی يې (۱،۹۳) متره کېږي.

دغه ستر ماشين، چې نړيوال ريکارډ يې ترلاسه کړی، د (جانسن کمبرس) لخوا د (۲۰۱۴) م ميلادي کال د مارچ بر (۲۳) مه نېټه د امريکا متحده ايالاتو په (ايليونس) ښار کې جوړ شوی دی.

نوموړی ريکارډ په رسمي بڼه د ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان لخوا ثبت او خپور شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ ستر کوبای بوټان

تاسو به د کوبای نوم اوریدلی وي، د دوی بوټان او جامې په نړۍ کې ځانګړې شهرت لري، (باب وید)، چې د (امریکا) د (تګزاس) ایالات اوسیدونکی دی، په دې و توانېده، چې د نړۍ ستر کوبای بوټان جوړ کړي او خپل نوم د (۲۰۱۶) م میلادي کال ګینیس نړیوال ریکارډ کتاب کې ثبت ته ورسوي.

د دې بوټان د لوړوالي اندازه (۱۰،۳۴) متره یعنې (۳۵) فوټه کېږي او د یوه عادي سړي څخه (۹) برابره وچت یا لوړ دي.

دا کوبای بوټان د (۷۱) کلن (باب وید) لخوا په (۱۹۷۹) م میلادي کال کې د هنرونو په یوه ځانګړي خونه کې جوړ شوي و، خو وروسته بیا دغه بوټان د واشنګټن (WPA) سازمان لخوا له دې ځایه بهر د (واشنګټن) یوه سړک سره څېرمه ولړول شول، د نړۍ دغه ستر بوټان د (۵) کسانو لخوا په (۳) مباشتو کې جوړ شوي دي.

د کوبای بوټانو ریکارډ رسما د ګینیس ورلډ ریکارډ سازمان لخوا تایید او خپور شوي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فوټبال توپ په مرسته د اوږې پر سر حرکت

دغه ریکارډ د یوه تکړه د فوټبال لوبغاړي لخوا ترسره شوی دی، نو موږ په دې وتوانېده، چې د فوټبال توپ په مرسته دغه نړیوال ریکارډ ترلاسه کړي او خپل نوم د ګینیس نړیوال کتاب کې ثبت ته ورسوي.
دغه ورزشي حرکت د (دانیل کتنګ) لخوا، چې د (انګلستان) هېواد اوسدونکی دی ترسره شوی دی، (دانیل) په دې وتوانېده، چې په یوه دقیقه کې (۶۹) ځلې دغه حرکت ترسره کړي.
دانیل چې په خپله د (انګلستان) هېواد اوسیدونکی دی، دغه ورزشي حرکـت یې د (ایټالیا) هېواد په (روم) ښار کې د (۲۰۱۲) م میلادي کال د اپریل پـر (۱۷) مه نېټه ترسره کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ګېډې پر سر د موټر سایکل څغلول

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ډېری کسان داسې ریکارډونه او حرکات ترسره کــوي، چې نړویوالو ته ډېر پزړه پوري تمامیږي، دا لوبغــاړي پــه دې ریکــارډون ســره غواړي ځان خلکو ته ور وپېژني.

دغه ریکارډ، چې تاسو ته یې در پېژنو د (هلتراګرین) لخوا ترسره شــو دی، دی په داسې حال کې چې یوه اوسپنیزه تخته یې په خپلې ګیډې ایښې (۲۰) مــوټر سایکلونه د خپلې ګېډې پر سرتیروي.

(هلتراګرین) په ډېرې ځواکمنتیا سره دغه خطرناکه ریکاډ ترسره کړی دی، په یوه دقیقه کې د نوموړي ګېډې پر سر (۲۰) ځلي موټرسایکل و چلول شو، دغــه ریکارډ په (۲۰۱۱) م میلادي کال کې ترسره شــوی او ګینــیس نړیــوال ریکــارډ سازمان لخوا رسما تائید او خپور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ تر ټولو ستر قلم

داځل تاسو ته داسې ریکارډ در پېژنو، چې په (هندوستان) هېواد کې د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا لاسته را غلی دی.
دا قلم د (آرچیا مکنوری) لخوا، چې خپله د (هندوستان) هېواد د (حیدار) آباد ښار اوسیدونکی دی جوړ شوی دی.
(آرچیا) په دې قلم کې د لرګیو، اوسپنې څخه ګټه پورته کړې ده او ډېر ښایسته یې ډیزاین کړی دی، د نړۍ دغه ستر قلم (۵،۵) متره لوړوالی لري او مجموعي وزن یې (۳۷،۲۳) کیلو ګرامه دی.
(آرچیا) له دې قلم سره لیکل هم کوای شي، خو په یواځې ځان نه، بلکې د څو کسانو په مرسته.
د (آرچیا) دغه ستر قلم په هندوستان کې ډېر مینه وال لري او د ورځې په اوږدو کې ډېری کسان یې ننداري لپاره ورځي.
دغه ریکارډ په (۲۰۱۵) م کال کې د ګینیس ورلډ ریکارډ سازمان لخوا په رسمي بڼه تائید او خپور شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوبو پر سر د انسان تر ټول ستر هرم

يو ډله چينايي د اسکي لوبغاړو ښځينه او نارينه ځوانان په (امريکا) هېواد کې د اوبو پر سر داسې ورزشي حرکات ترسره کړی دی، چې د نړيوالو پام يې ځان ته را واړو.
دغه ډله چې د ريکارډ د ترسره کولو لپاره سره راټول شوي و، په دې وتوانېدل، چې د اوبو پرسر يوم حرم جوړ کړي هغه هم د اوبو پر سر په روان حالت کې.
دغه ورزشي حرکت يو ځلي د (۲۰۱۲) م ميلادي کـال د سـپتمبر مېاشـتې پـر (۲۳) مه نېټه هم ترسره شوی و، چې هغه وخت په دې ورزشي حرکت کـې لـه (۴۸) کسانو څخه ګټه پورته شوې وه.
خو دغه ريکارډ بيا وروسته په (۲۰۱۳) م ميلادي کال کې د سپتمبر پر (۱۴) مـه نېټه د چينايي لوبغاړو لخوا مات شو، دغه ډله لوبغاړي په دې وتوانېدل، چې پـه دې ورزشي حرکاتو کې له (۶۰) کسانو څخه ګټه پورته کړي.
نوموړی ريکارډ په رسمي بڼه د ګينيس نړيوال ريکارډ سـازمان لخـوا ثبـت او تائيد شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ تر ټولو ستر نوکان

(شیر دال چالیلا) د (۶۲) کلونو لپاره خپلو نوکانو ته په خپلو لاسونو کې وده ورکړې او د نړۍ د سترو نوکانو ریکارډ یې په خپل نوم ثبت کړ.
نوموړي په خپلو نوکانو باندې ډېر زیا ویستۍ دی او په ډېر کوښښ سره یې خپلو نوکانوته وده و رکړې ده، دی په هندوستان هېواد کې د اوږدو نوکانو په در لودولو سره مشهور دی، نوموړي د دې نوکانو په درلودلو سره د نړیوال پام یې ځانته را اړوی دی.
(شیر دال چالیلا) له (۱۹۵۲) م کال راهیسې تر دې دمه خپل نوکان نه دې قطعه کړي، ده د خپل کین لاس نوکانو ته وده ورکړې او تر دې دمه د دې نوکانو اندازه (۹۰۹،۶) سانتي متره کېږي.
او د دې کس تر ټولو ستر نوک د منځنۍ ګوتې دی، چې مجموعا (۱۸۶،۶) سانتي متره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په چټکۍ سره جال ته د باسکتبال توپ اچول

دغه ریکارډ په (امریکا) هېواد کې د بسکتبال ټیم د یوه ټکـره لوبغـاړي لخـوا ترسره شوی دی، دغه لوبغاړی په ډیرې چټکۍ سـره پـه دې وتوانېـده، چـې نوموړی حرکت ترسره کړي.
(آمریکا) چې د بسکتبال په لوبو کې نړیوال شهرت لري او تل یې په دې لړ کـې اتلولۍ هم خپلې کړې دي، لوبغاړي یې تل کوښښ کوي، چـې د خپـل مهـارت څخه په ګټې اخیستنې نړیوال ریکارډونه جوړ کړي، باسکت لوبـه د (آمریکـا) ملي لوبه ګڼل کېږي او په دې هېواد کې په (NBA) ډېرې مشهورې دي.
د دې ریکارډ ترسره کونکی (زیو مکلورکین) نومیږي، دی په یوه دقیقـه کـې و توانېده، چې (۱۵) د بسکیتبال بال توپ جال واچوي، د نوموړي دغـه ورزشـي حرکت د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخو د یوه چټک ریکارډ په بڼـه ثبـت شو.
د بسکیتبال دغه چټک حرکت د (۲۰۱۵) میلادي کال د نوامبر پر (۵) نېټـه پـه (امریکا) کې ترسره شو.



په پوزې باندې د توپ تاوول

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یو ډېر حیرانوونکی ریکارډ، موږ او تاسو به تل داسې کسان لیدلي وي، چې توپ د خپلو ګتو پر سره راتاوی کړی وي، خو داځل مو تاسو ته داسې ریکارډ اخیستی دی، چې یو تکړه کس توپ د خپلې پوزې پر سر را تاواوي.**

**دغه ریکارډ د بسکیتبال لوبغاړو لخوا ترسره شوی دی، د بسکتبال یوه ډله لوبغاړو د بېلابېلو حرکتونو په ترسره کولو سره داځل یو نوی ریکارډ لاسته راوړ.**

**نوموړی ریکارډ د (سوکتر کرستینسن) لخو، چې خپله د بسکیتبال لوبغاړی دی لاس ته راغلی، نوموړي وکولای شول چې تر (۷،۷) ثانیو پورې توپ په خپلې پوزه باندې راتاو کړي.**

**په پوزې باندې د توپ راتاوولو ریکارډ په (امریکا متحده ایالاتو) کې د (۲۰۱۵) م میلادي کال د نوامبر پر (۵) مه نېټه ترسره او رسما د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا ثبت او تائید شو.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ستر پېښو د رامنځته کېدو له مخې د نړۍ تر ټولو ستر فلم

دا هغه فلم دی، چې د سترو پېښو له مخې يې نړيوال ريکارډ ترلاسه کړ، يعنــې د دې فلم په جوړولو کې ډېرې سترې پېښې رامنځته شوي دي.
دا د (جميز) باند فلم دی، چې نړيواله پېژندل شوې څېره ده او تل يې په خپلــو فلمونو کې د خلکو سره مرسته کــول او د خلکــو را ژغــورل انځــور کــړي دي، (جيمز) باند د دې فلمونو په ننداريې سره د ملګرو ملتونو سرمنشی بانکي مــون لخوا هم وستايل شو.
د دې فلم لوبغاړي (جيمز باند، دانيل کريګ، ليــډنګ ليــډي) او پروډيوســرېې (براب برا) دی.
دوی داسې د جاسوسۍ فلم ننداريې ته وړاندې کړ، چې د يوې صحنې د ريکارډ لپاره يې يو ډېره ستره چاودنه ننداريې ته وړاندې کړه، چې لــه دې مخکــې پــه فلمونو کې يې سارۍ نه و ليدل شوی.
دغه چاودنه، چې په مراکش کې ترسره شوه او په ټوليز ډلو (۶۸،۴۷) ټې ان ټي مواد (۸،۴۱۸) سپين نفت او (۳۳) کيلوګرامه چاوديدونکي مــواد پکــې کــارول شوي و، دې چاودنې (۷،۵) ثانيو پورې دوام وکړ.
د (جيمز) باند دغه فلم د سترو پېښو د رامنځته کېدو له مخې د نړۍ تــر ټولــو ستر فلم ريکارډ تر لاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ ستر بایسکل


له دې مخکې مو تاسو ته د نړۍ تر ټولــو ډېــر وزن لرونکــی بایســکل او مــوټر سایکل پېژندلی و، خو داځل د هغه پخــواني ریکــارډ پــه تــوپیر د نــړۍ ســتر بایسکل تاسوته در پېژنو، چې نړیوال ریکارډ ترلاسه کړی دی.
دغه بایسکل په (نیدرلند) هېواد د بایسکل جوړلو کمپنۍ لخوا جوړ شــوی او د نړۍ تر ټولو ستر بایسکل په نامه پیژندل کېږي.
د د ې بایسکل مجموعي اوږد والی (۳۵،۷۹) سانتي متره دی، چې (۱۱۷) فوټــه کېږي.
نوموړی بایسکل د دوه کسانو لخوا چلول کېږي، چې په مخکنۍ او شاتنۍ برخه کې د ځغلولو لپاره ځای لري یعنې د دوه کسانو لخوا په ګډه چلول کېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په نړۍ کې د ډېرو غاښونو درلودونکی

یو حیرانوکی ریکارډ په نړۍ کې د ډېرو غاښونو درلودونکی کس، چې نړیوال ریکارډ یې تر لاسه کړی دی.
دغه کس (ویجې کمار) نومیږي او د (هندوستان) هېواد ښخه دی.
(ویجي کمار) د نورو عادي کسانو په توپیر، چې ډېری (۳۲) غاښونه لري د (۳۷) غاښونو خاوند دی او د دې غاښونو په درلودلو سره د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا په نړۍ کې د ډېرو غاښونو درلودنکی کس لقب یې خپل کړ.
کمار وایي، چې له ده څخه مخکې د ده یو ملګري (۳۶) غاښونه درلودل خو نوموړي د (۳۷) غاښونو په درلودلو سره دخپل ملګري ریکارډ مات کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوږد موټرسايکل

له دې وړاندې مو تاسوته د موټر سايکل او باسکيل په مرسته ترسره شوي ريکارډونه پېژندلې و، خو داځل تاسو ته د نړۍ تر ټولو اوږد موټر سايکل در پېژنو، چې نړيوال ريکارډ يې ترلاسه کړی او رسما په ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان کې ثبت شوی دی.
دغه موټر سايکل د (بهارت سن پارمر) لخوا جوړ شوی دی، د دې موټر سايکل مجموعي اوږد والی (۲۶،۲۹) متره او (۸۶) فيټه دی، چې د نړۍ تر ټول اوږد موټر سايکل لقب يې خپل کړ.
دغه ريکارډ د ګينيس نړيوال ريکارد سازمان د (۲۰۱۶) کتاب کې په رسمي توګه ثبت ته ورسېده.
(بهارت) چې دغه موټر سايکل جوړ کړی، وايي ډېر خوښ يم، چې نړيوال ريکارډ مې ترلاسه کړ او کوښښ به وکړم، چې په راتلونکې کې هم داسې جالبه ريکارډونه ثبت ته ورسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په پښنه باندې د فوټبال توپ کنترولول

دغه ریکارډ مو تاسو ته د فوټبال له نړۍ څخه را اخیتسی دی، لکه څنګه چې ګورو په دې ورستیو څو کلونو کې فوټبال لوبې په افغانستان کې هم ډېر مینه وال پیدا کړي او د ورځې په تېریدو سره يې مینه وال ډېریږي، د نړۍ ډېری هېوادونه دي، چې د فوټبال لوبې له لارې ډېرې پی سی ګټي او په دې لوبې باندې ډېرې پانګونې هم کړي دي.

د دې لوبې یو مشهور حرکت دی، چې نړیوال ورته (دریبل) وايي، دغه حرکت ډېر عادي دی، چې د فوټبال لوبغاړي يې ترسره کولی شي، خو (جوهان فارن ورت) دغه حرکت په پونده باندې یعني برعکس ترسره کړی، چې د یوه نړیوال ریکارډ په توګه وپېژندل شو.

(جوهان) د فوټبال دغه حرکت په (۱) دقیقه کې په دوامداره توګه ترسره کړ، د نوموړي دغه حرکت د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان د (۲۰۱۶) کال کتاب کې په رسمي توګه ثبت ته ورسېده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ځنګل باندې د هګیو ماتول

**ډیرو کسانو ته به د هګیو ماتول ډیر ساده او سانه کاروي، خو عملا د دې حرکت ترسره کول بیا ډیر ګران کار دی، د (ایټالیا) هېواد ځخه یو کس د (مارو ویګنیني) په نامه په ډیرې چټکی سره په ځنګلونو باندې د ډیرو هګیو ماتول ریکارډ ترلاسه کړ.**

**(مارو) په خپلو ځنګلونو باندې په (۱۲،۶۴) ثانیو کې (۱۰) هګۍ ماتې کړې او خپل نوم یې په ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان کتاب کې ثبت ورسو.**

**نوموړی ریکارډ د (ایټالیا) هېواد په (میلان) ښار کې د (۲۰۱۱) م میلادي کال د اپریل پر (۲۸) مه نېټه ترسره شوی دی.**

**دغه ریکارډ د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا په رسمي توګه ثبت او تائید شوی دی.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په یوه ساعت کې دسنه کشۍ (پوش اپ) حرکت ترسره کول

دغه ریکارډ مو تاسو ته د بدن د ښکلا څخه را اخیستی دی، دغه ریکارډ بــه د بدن د ښکلا لوبغاړو لپاره د پام وړ وي.

ننی ورځ ډیری ځوانان په کلپونو کې په بېلابېلو ورزشي لوبو بوخت دي او هــره ورځ تمرین کوي او داسې لوبغاړی به نه وي، چې (پوش اپ) یا د ســینه کشــی حرکت یې نه وي ترسره کړی.

د (پوش آپ) حرکت د بدن د مقاومت لوړولو لپاره خورا ډیر مهم هم دی، چــې ډیرې انرژۍ ته اړتیا لري.

خو د (کارلوتون ویلمس) په نامه دغه کس، چې د بدن د ښکلا لوبغاړی هم دی، د (پش آپ) حرکت یې په یوه ساعت کې په د وامداره توګه ترسره کړ، چې پــه نړۍ کې د ډیرو کسانو پام یې ځانته را واړولو.

کارلوتون په یوه ساعت کې (۲۲۲۰) ځلي د (پوش آپ) حرکت ترســره کــړ او د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا په رسمي توګه ثبت ته ورسید.

(کارلوتون ویلیمز) د (انګلستان) هېواد اوسیدونکی دی او دغه ریکــارد یــې د (۲۰۱۵) م کال د جولای پر (۲۵) مه نېټه په (آسټرالیا) هېواد کې ترسره کړ.

د (پش آپ) یا د سینه کشی حرکت پخــوانی ریکــارډ (۱۸۷۴) ځلــي و، چــې د ویلیمز لخوا مات شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړۍ ټيټه غوا

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې بزګران، هغه کسان چې مالداري کوي او ډېرى داسې نور کسان تل کوښښ کوي، چې داسې کار ترسره کړي تر څو خپل ځان مشهوره کړي او د يوه نوي کار په ترسره کولو سره د ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان غړي کېږي.

داځل تاسو ته د نړۍ تر ټول ټيټه غوا در پېژنو، د دې غوا لوړوالى (۶۱،۱) سانتي متره دى او مجموعا (۴۰) کيلو ګرامه وزن لري او په دې لوړ والي سره نړيوال ريکارډ يې خپل کړ.

دغه غوا (۶) کاله عمر لري او د (۶۱،۱) سانتي متره قد په درلودلو سره د نړۍ تر ټول ټيټه غوا لقب يې تر لاسه کړ، دغه ريکارد د ګينيس نړوال ريکارډ سازمان لخوا په رسمي بڼه ثبت ورسيد.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په چټکۍ سره په پښو او لاسونو باندې منډې وهل

**د (جاپان) هیواد ځخه يو تکړه ورزش کار پــه دې و توانيــده، چــې د د (۲۰۱۵) ميلادي کال د نوامبر پر (۶) مه نېټه يو نوی نړيوال ريکارډ رامنځته کړي، دغــه ريکارډ د دواړو لاسونو او ښپو په مرسته په چټکۍ سره منډه وهل دي.**
**دغه لوبغاړی د (کانچي ايتو) په نوم ياديږی، دی په دې وتوانېــده، چــې د (۱۰۰) مترو فاصله په (۱۵,۱۷) ثانيو کی د خپلو لاسونو او ښپو په مرسته منډه ووهی او يو په زړه پوری نړيوال ريکارد رامنځته کړي.**
**دغه ريکارډ د (جاپان) د (توکيو) ښار کی په يوه ننــدارتون د يوشــمېر ننــداره چيان پر وړاندې ترسره شو.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په خوله کې د (۱۵) دانو بل شویو شمعو را نیول

د (هندوستان) په هېواد کی هم خلک په دې هڅه کې دي، چـــی نـــوي نړیـــوال ریکارډونه د خپلو مهارتونو سره رامنځته کړي دغه راز د (دنیش شیفنات) پـــه نامه یو کس په دې وتوانېده، چی په خپل مهارت ســـره خپـــل نـــوم د ګینـــیس نړیوال ریکارډ په (۲۰۱۶) م کال کتاب کی ثبت ته ورسوي.

(شیفنات) په دې بریالی شو، چې (۱۵) دانی بلې شوې شمعې تـــر ډېـــره ځنـــډه پوری په خپلې خولې کې یو ځای ونیسي، نوموړي دغه ریکارډ په (ممبی) ښـــار کې د (۲۰۱۵) م کال د نوامبر پر (۱۰) مه نیټه ترسره کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوبو لاندې د انسانانو اوږده حلقه

دغه ریکارډ د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان لخوا چمتو شوی دی، دغه سازمان د خپلو پروګرامونو په لړ کې یوه ډله کسان راټول کړي دي تر څو یو نړیوال ریکارډ ترلاسه کړي.

دغه ډله کسان، چې د اوبو ځانګړي وسایلو سره سمبال دي، د یوې رسۍ په مرسته یو لویه او اوږده حلقه جوړه کړې او د اوبو لاندې یې مزل کړی دی.

دغه ریکارډ د (ایټالیا) هېواد په (بولینا) سیمه کې د (آلبا) د سمندر غاړې ترخنګ ترسره شوی دی.

په دې ریکارډ کې د (۱۷۳) کسانو څخه ګډه پورته شوې ده، دغه ډله کسان په دې وتوانېدل، چې د اوبو لاندې یوه لویه حلقه جوړه او نړیوال ریکارډ خپل کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په مېرمن او خاوند کې د لوړوالي له مخې ستر توپير

دغه واده شوې جوړه، يو د لوړ قد او بله د ټيټ قد پــه درلودلــو ســره نړيــوال ريکارډ خپل.

(فابين پريتو) د (فرانسې) هېواد اوسيدونکی دی او د (۱۹۶۸) م کال د جنــورۍ پر (۱۵) مه نېټه زيږېدلی دی، نوموړی (۱۸۸،۵) سانتي متره لوړ قد لري (فابين) د (نتيالي لوسس) سره، چې په (۱۹۶۶) م کال کې د جنورۍ پــر (۱۹) نېټــه پــه (فرانسه) کې ځيږېدلې ده واده و کړ، خو د (فابين) د قد د لــوړوالي پــه تــوپير د هغه د مېرمن (نتيالي لوسس) د قد لوړ والی صرف (۹۴،۵) سانتي متره دی، چې له دې سره يې نړيوال ريکارډ خپل کړ.

ګينيس نړيوال ريکارډ سازمان دغه ريکارډ په (فرانسې) هېواد ترلاســه او پــه رسمي توګه يې په خپل کتاب کې ثبت کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ږیرې په مرسته د موټر کش کاږل

**په نړۍ کې هر انسان په دې لټه کې دی، چې د خپل مهارت او ځانګړتیا سره یوه ریکارډ ترسره او ځان نړیوالو ته ور وپېژني.**

**(کپیل ګي هولت) چې د (هندوستان) هېواد ځخه دی د خپل مهارت سره نړیوال ریکارډ ترلاسه کړ، نوموړی په دې توانېده، چې د خپلې ګېږې په مرسته یو موټر را کش کړي.**

**د دې موټر مجموعي وزن (۲۲۰۵) کیلو ګرامه دی او (کپل) له همدې وزن سره سره د خپلې ګېږې په مرسته راکش کړ.**

**دغه ریکارډ د (هندوستان) هېواد د (جودا پور) په (راجستان) نومې سیمه کې د (۲۰۱۲) میلادي کال د جون پر (۲۱) مه نېټه ترسره شو.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه آس چې (۱۰) متره په خپلو دوو شاتني پښو باندې مزل وکړ

دغه آس (ډسرت کیسمرت) نومیږي او د خپلوو دوو پښو په مرسته لــس متــره مزل وکړ، چې له دې سره یې نړیوال ریکارډ ترلاسه کړ.
(ډسرت) نومی آس (۱۰) متره واټن په (۹،۲۱) ثانیو کې ترسره کړ.
دغه آس په (متحده عربي اماراتو) کې د څو کسانو لخوا روزل شوی دی.
(ډسرت) نوی آس (۱۶) کلن دی او د خپلو دوو پښــو پــه مرســته یــې نړیــوال ریکارډ خپل کړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو مایله په چټکۍ سره شاته تګ

د ګینیس نړیوال ریکارډ سازمان ډیر ریکارډونه د بېلابېلو ورزش کـارانو لخـوا ترسره او لاسته راغلي دي.
(هارون یودر) چې د ځغاستې لوبغاړی دی په دې وتوانېده، چــې یــو مایــل پــه چټکۍ سره په شاه تګ وکړي او نړیوال ریکارډ یې ترلاسه کړ.
(هارون یودر) د (امریکا) متحده ایالاتو د (لنــدز بــورګ) ایــالات د (کــانزاس) سیمې اوسیدونکی دی، نوموړې (۵) دقیقې او (۵۴،۲۵) ثانیو پــورې یــو مایــل شاته تګ وکړ، دغه پزړه پوری نړیوال ریکارډ د (۲۰۱۵) میلادي کال د نومبر پــر (۲۳) مه نېټه په آمریکا متحده ایالاتو کې لاس ته راغی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک


**سرليک ........................................ مخ**

**د ژباړن خبرې** ........................................ ۱

**د الکترونيکي يا (هووربورډ) تختې په مرسته الوتل** ........................................ ۳

**د نړۍ چټکه لارۍ (ټرک)** ........................................ ۵

**د نړۍ دروند بايسکيل** ........................................ ۶

**د نړۍ دروند موټر سايکل** ........................................ ۸

**د موټر سايکل چلول په اور کې** ........................................ ۹

**د نړۍ ستر کېک** ........................................ ۱۱

**په ځنګل باندې د کوپرې ماتول** ........................................ ۱۲

**انځوريځ سيلفي ريکارډ** ........................................ ۱۳

**د غابښ ډکو په مرسته د لرغونو سيمو جوړل** ........................................ ۱۶

**د دوه موټرو ترمنځه د موټر پارکول** ........................................ ۱۷

**د نړۍ ستر چرمي توپ** ........................................ ۱۸

**د موټرسايکل په مرسته د دوه اوسپنيزو کانټېنرونو پر سر جمپ وهل** ........................................ ۱۹

**د ګلف توپ په مرسته نښه ويشتل** ........................................ ۲۰

**د سمنټي تيږو ماتول** ........................................ ۲۱

**په تندي باندې د غوزانو ماتول** ........................................ ۲۲

**د لوړ ځای څخه اوبو ته ټوپ وهل** ........................................ ۲۳

په يوه دقيقه کې (۲۱۴) ځلي د اوږې پر سر د **فوټبال توپ ټچول** ........................................ ۲۴

**ډېر وزن لرونکی ځمکنی (زميني) توت** ........................................ ۲۵

**د ګېډې پرسر د سمنټي تيږو ماتول** ........................................ ۲۶

**د خولې د هوا په مرسته د هګيو اړول** ........................................ ۲۷

**د نړۍ ګران بېيه ساندويچ** ........................................ ۲۸

**د ټايرونو بدلول** ........................................ ۳۰

په يوه دقيقه کې (۲۲۴) ځلي په پښه باندې د فوټبال توپ ټچول ........................................ ۳۲

**د موټر تاوول** ........................................ ۳۳

د (کوېډ) موټر سايکل په مرسته د ډېرو موټرونو پر سر جمپ وهل ........................................ ۳٤

**د ژبې په مرسته د تلکونو خنثاکول** ........................................ ۳۶

**چټک سرعت** ........................................ ۳۸

**برعکس (سرچپه) تاوېدل** ........................................ ۳۹

**د اوبو لاندې د بايسکل ځغلول** ........................................ ٤۰

**لوړه (دنګه) غوا** ........................................ ٤۲

**پر سر باندې د اوسپنيزو سيخانو قاتول** ........................................ ٤۳

(c) ketabton.com: The Digital Library


له ډېرو کسانو سره لاس ورکول ........................ ٤٤
په لوړه سیمه کې ترسره شوې اور لوبه ........................ ٤٥
په اوبو کې د سر په مرسته د فوټبال توپ کنټرول ........................ ٤٧
د نړۍ له لوړې سمې څخه ټوپ وهل ........................ ٤٨
هغه سپورتي حرکتونه، چې په یوټوب کې یو ډېر لیدونکي درلودل ........................ ٤٩
د (۴۰) پونډه وزن سره د سینه کشۍ (پل اپ) حرکت ترسره کول ........................ ٥٠
د موټرونو لاندې تېرېدل ........................ ٥٢
په هواکې د تختو ماتولو ریکارډ ........................ ٥٣
سوک وهنه ........................ ٥٤
په یوه وخت کې د دوه وو توپونو تاوول ........................ ٥٥
په ګوتو باندې ودرېدل ........................ ٥٦
په لاسونو باندې د وزن نیول ........................ ٥٧
په یوه وخت کې د باسکیټبال د څو توپونو تاوول ........................ ٥٨
د موټر په مرسته ریورس جمپ وهل ........................ ٥٩
په روان موټر باندې جمپ وهل ........................ ٦٠
په افقي ډول د لس کیلو ګرامه وزن نیول ........................ ٦١
د غوړیو په بېلرونو باندې د موټر سایکل په مرسته حرکت کول ........................ ٦٢
په سر باندې د کانکریټي پلیټونو ماتول ........................ ٦٣
کولپ شوې او د اور څخه د ډکو دروازو خلاصول ........................ ٦٥
د نړۍ تر ټولو لوی او ستر روبات ........................ ٦٦
د نړۍ تر ټولو لوړ آس ........................ ٦٨
د ژبې په مرسته د ډېر وزن اوچتول ........................ ٦٩
په موازي توګه د موټر پارکول ........................ ٧٠
د واټر جیت په مرسته په اوبو کې ملاق وهل ........................ ٧١
پر سر باندې په پوړیو کې پورته ختل ........................ ٧٢
د نړۍ نوی چټک موټر ........................ ٧٣
په سر باندې د موټر نیول ........................ ٧٤
په یوه دقیقه کې د ډېرو ښیښو ماتول ........................ ٧٥
د (GTA 5) ګیم پنځه ریکارډونه ........................ ٧٦
د نړۍ یخ (سوړ) کنسرټ ........................ ٧٨
د توپ کنټرول  او د رسۍ لوبه ........................ ٧٩
د قمچیني په مرسته د شمعو مړه کول ........................ ٨٠
د غاښونو په مرسته د وزن پورته کول ........................ ٨١

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنګه (لوړه) واده شوې جوړه .......... ۸۲
د نړۍ چټکه شمشتی.......... ۸٤
د سپي لخوا د ډېرو توپونو را نیول .......... ۸۵
د نړۍ تر ټول ستر ښکرور غویه.......... ۸۷
د غشو رانیولو ریکارډ.......... ۸۹
د لوبو  په نړۍ کې تر ټولو ستر ماشین .......... ۹۰
د نړۍ ستر کوبای بوټان .......... ۹۱
د فوټبال توپ په مرسته د اوګې پر سر حرکت .......... ۹۲
د ګېډې پر سر د موټر سایکل ځغلول.......... ۹۳
د نړۍ تر ټولو ستر قلم .......... ۹٤
د اوبو پر سر د انسان تر ټول ستر هرم.......... ۹۵
د نړۍ تر ټولو ستر نوکان .......... ۹٦
په چټکۍ سره جال ته د باسکتبال توپ اچول.......... ۹۸
د ستر پېښو د رامنځته کېدو له مخې د نړۍ تر ټولو ستر فلم.......... ۱۰۰
د نړۍ ستر بایسکل .......... ۱۰۲
په نړۍ کې د ډېرو غاښونو درلودونکی.......... ۱۰۳
اوږد موټرسایکل .......... ۱۰٤
په پښه باندې د فوټبال توپ کنترولول .......... ۱۰٦
په یوه ساعت کې دسنه کشۍ (پوش اپ) حرکت ترسره کول .......... ۱۰۸
د نړۍ ټیټه غوا .......... ۱۱۰
په چټکۍ سره په پښو او لاسونو باندې منډې وهل .......... ۱۱۱
په خوله کې د (۱۵) دانو بل شویو شمعو را نیول .......... ۱۱۲
د اوبو لاندې د انسانانو اوږده حلقه .......... ۱۱۳
هغه آس چې (۱۰) متره په خپلو دوو شاتني پښو باندې مزل وکړ.......... ۱۱٦
یو مایله په چټکۍ سره شاته تګ .......... ۱۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له جهادي شخصیت ښاغلي (زلمي توپان) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له ژباړن او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ژباړلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# 100 HUNDRED International Records



Collected and translated by: Rohullah sapai

GUINNESS WORLD RECORDS

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۰۰

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**